کابل

پرلہ پسی گڼہ

(۲۸)

(۷)

Sel. Od 63

علمي اجتماعي او ادبي

تله (۱۳٤۲) لمرنی کال د (۱۹٦۳) عیسوی کال سپتمبر او اکتوبر

شمیر	لیکنه	لیکوال	مخ
۱ـ	تصوفی ادب	پوهاند صدیق‌الله رښتین	۱
۲ـ	دپښتو قلمی نسخې	رښتین	٥
۳ـ	براهویی ژبه او پښتو	عبدالرحمن بلوڅ	۸
٤ـ	دلغاتو عمومی بدلون	دسیفی اخیستنه	۱٥
٥ـ	دملادرمحمد ځاځی شاعری	مجاوراحمدزیار	۲۳
٦ـ	قوی مینه	محمد شاه ارشاد	۳۳
۷ـ	دشونډویاد	دوست شنواری	۳٤
۸ـ	دمینی سامان	جنت‌گل نثاری	۳٥
۹ـ	دپښتو ادبی اوشعری قاموس	واسعی	۳٦
۱۰	اول زده کړه بیاکوزده کړه (ډرامه)	قتیل	٤٥
۱۱ـ	دزړې افسانې نوی فصل	غوث‌خیبری	٦۹

امتیاز — دپښتو ټولنې

مشر — پوهاند رښتین

مسئول مدیر — محمد صدیق روهی

په دې عکس کښې معظم همایونی اعلیحضرت اومعظمه ملکه
دامریکې له جمهور رئیس ښاغلی جان فیتز جرالد
کینډی سره دخبرواترو په حال کښې لیدل کیږی .

د ادب پلوشې

پوهاند صدیق الله رشتین

تصوفی ادب

په پښتو ادب کښې تصوف په مسلکی او منظم ډول دمیاروښان او میرزا انصاری په وخت کښې را ننوتی دی . ارزانی او دولت‌خان‌هم په دې کښې لویه برخه لری خود میرزا وینا درنه او تللی ده .

تر دې وروسته رحمان بابا لوی متصوف شاعر دی .دده دزړه جهان دعشق په رڼا روښانه دی . دخوشال ، عبدالقادر ، کاظم شیدا اوحمید په شعرونو کښې هم یو نیم تصوفی غزل یا بیتونه پیدا کېږی مګر کوم پوخ مسلکی رنګ نه‌لری .

دمیرزا شاعری او تصوف په علمی نظری او حالی رنګ کښې ځان ښکاره کوی او درحمان بابا په شعر کښې یوازې دحال پلوشی ځلېږی. ددې ټولوشاعرانو له شعرونو څخه دتوحید نظریه څرګندېږی مګر کله دوحدة الوجود او کله دوحدة الشهود په رنګ کښې .

لومړی دمیرزاانصاری په‌شعرونو کښې دتصوف دغه رنګارنګ جلوې کتل په کاردی:

د ثانی ګومان فانی دی — یګانه‌احد موجود شو
مدام یو له یووجوده تماشا کړم — تل ترتله بی شریکه بی همتا یم
لکه کب دی له اوبه،اوبه‌له کبه — دغه هسی رسیدلی و هرچا یم
په نیستی کښې له هستیه تعجب دی — چه داڅاڅکی له‌محیطه‌سره‌ضم کړم
کل حجاب دسړی خپله ناپوهی ده — دهرچالیده د فهم په مقدار شی

په لومړو بیتونو کښې وحدة‌الوجوداوپه دریم کښې دوحدة‌الشهود رڼا ښکاری څلورم بیت له فنا څخه وروسته دبقا مقام ښیی اوپه پنځم بیت کښې ناپوهی دتصوف دلارې لوی بندیز بولی .

دولت خان دمیرزا په لاره روان دی لکه چه وایی :

په وصلت دو اصلا نو یو کیده دی — په یوه‌وجودشمیرل ټول وجودونه

چه داواړه وجودونه یو وجود کا په د غه حساب تمام شی حسابونه

په لومړی بیت کښې دوحدة الوجود او په دوهم کښې دوحدة الشهود محلا لیدل کېږی رحمان بابا هم په بیلو بیلو رنګونو کښې خپل تصوف ښکاره کوی لکه چه وایی :

هر چه دی سوا له خدایه
واړه و ګنه نا بود
چه می ستا د جمال عکس دی لیدلی
هم په داد آینی په خیر حیران دی زما روح
هغه زړه چه خدای روښان کا جام دجم شی
په داجام کښې ورښکاره تمام عالم شی
ګنج دعقل محار شه دعاشق تر څاڅکی او ښکی
نه خروارد عقل نه دعشق یوه دانه
هرچه لاندی خپل وجود تر خپل قدم کا
عرش یې لاندې ترقدم شی آسمان څه دی

په لومړیو بیتو کښې وحدة الوجود او په وروستیو کښې دوحدة الشهود بڅرې بریښی په دریم کښې دکشف مقام ښیی ، په څلورم کښې دعقل یعنی استدلال بی اهمیتی څرګندوی او په پنځم کښې دفنا مقام یعنی له ځانه تیریدل له عرش نه دپورته ختو سبب بولی .

دخوشال له دې بیتونو څخه دوحدة الشهود بوی راځی:

عاشقان چه په ښه مخ کا دومره مینه
مګر خدای وینی دښکلو په جمال کښې
یار په هرلوری جلوه کاو رته ګوره
که دې نه وی دلید لو ستر ګی تنی
دعاشق د معشوقی سره یوراز دی
چه هیڅ څوک تری خبر نه وی په دنیا کښې
عارفان دسر په ستر ګو ګوتی کیږدی
دخپل زړه په ستر ګو ګوری تماشا

په څلورم بیت کښې دوصلت مقام او په پنځم بیت کښې دکشف مقام څرګندیږی

عبدالقادر د قربت مقام ته داسی اشاره کوی:

غیر حق مینه همه واړه حجاب دی

مه کړه نور عبدالقادره غیره مینه

کاظم شیدا اسلامی تصوف په دې شان وړاندې کوی:

په اسباب کښې می زړه بند په اسباب نه دی

د چمن په قید سروده آزاده

په دې ډول نور وروستی پښتو ادب له دغسی شعرونو څخه ډک دی مګر دیو خاص سبک او طریق پابندی په کښې نه ښکاری په دې وخت کښې بیا تصوفی شعرونه په غیر شعوری ډول هم ویل شوی دی چه کوم ځانته مسلک او مقصد ورځنی نه څرګند ېږی او تش د تقلیدی غریزې د تسکین د پاره د دیوانو نو په پاڼو کښې ځای ور کړ شوی دی.

اخلاقی ادب

اخلاق او تصوف بیخی له یو بل سره تړلی دی. دغه روح په پښتو او فارسی ادب کښې پوره ننوتی دی. مونږ دلته یو څو مثاله د نمونې او پرتلنی په ډول راوړو. مثلاً رحمن بابا وایی:

دخلیل تر کعبی دا کعبه ده لویه که آباد کا څوک ویران حرم دزړه

مولانا جلاالدین بلخی وایی:

طواف کعبهٔ دل کن اگر دلی داری دلست کعبهٔ معنی تو مگر چه پنداری

صوفیان هر وخت دزړه کعبه دخلیل له کعبی ښه ګڼی. دا ځکه چه دمومن زړه دخدای (ج) عرش دی. دمولانا او رحمان بابا اصلی مطلب یو دی خو رحمان بابا دزړه دحرم ودانول غواړی او مولانا ورنه چارچا پیر طواف کوی او دا ښکاره ده چه له تش طواف څخه دودانی قیمت زیات دی. مولانا وایی:

چیست دنیا از خدا غافل بودن نی قماش و نی زر و فرزند و زن

رحمان بابا وایی:

ښه ده ښه ده دا دنیا چه تو ښه ده دعقبا

مولانا یوازی د دنیا تعریف کوی چه دنیا مال دولت ته نه وایی بلکی له خدای (ج) نه غافل کیدل دنیا ده. ولی رحمان بابا زړور حکم کوی او وایی چه دا دنیا ښه ده او ښه ده ځکه چه دعقبی تو ښه ده.

مولانا وایی:

گر باستدلال کاردین بودی
فخر رازی رازدار دین بودی

رحمان بابا وایی:

کیفیت یی موندہ نشی
په دلیل او په برهان
خدای خبردی په دا علم
پرې خبر نه دی رحمان

مولانا د دین کار په استدلال پورې مربوط نه ګڼی بلکی یوڅه انکار ترې کوی او فخر رازی ته ګوته نیسی. مګر رحمان بابا د دلیل مخالف نه دی خو وایی چه مونږ پرې خبر نه یو او دلیل ورله نشو موندلای که نه کیدای شی چه دلیل ولری. د رحمان بابا په اخلاقی شعرونو کښې دغه شعر ونه د نیک مرغی د پاره راوړم او خپله وینا پرې بس کوم:

چه دور وراو دعزیز زړه پرې آزارشی
حاصل مشه هغه خپله مدعا
ښه خواړه چه یو یی خوری بل ورته ګوری
خواړه نه دی هغه زهر دی ګویا
هغه زړه به له طوفانه په امان شی
چه کشتی غوندې د خلکو بار بر دارشی
ښه توبه می نشی په تش ډاډ د کور و کلی
مرد بو یه چه واخلی د غم پیټی له غمګینه


ژبپوهنه

د پښتو قلمی نسخې

د خوشحال خټك دا خبره (چا یې پلو له مخه وانه خیست پښتو لاهسی بکره پر ته ده) اوس هم په هماغه رنګ پاتی ده او د پښتو پټی خزانې لاترا وسه د خاورو لاندې پټی پرتې دی.

که څه هم ورځ په ورځ د دغو خزانو له مخه پر دې لیری کیږی او د پښتو ادب ښایسته او ښکلی غمی ترې را څرګند یږی مګر بیا هم د دې خاورې په لړمون کښې لاډیرې مرغلری پاتی دی. څه موده پخوا پښتو ټولنی د پښتو د زړو قلمی نسخو د راغونډولو د پاره یو اعلان کړی ؤ. د دغه اعلان په اثر ډېر ویده زړونه راویښ شول او د پښتو په زړو کتابونو پسی یې لټون شروع کړ. په لږو ورځو کښې پښتو ټولنې ته ډېرې قلمی نسخی را ورسیدې چه د پښتو ټولنی له خوا په ښه قیمت واخیستلی شوې.

په دې سلسله کښې یوه ورځ یو ځلمی پښتو ټولنی ته راغی په غیږ کښې یې ډېر زاړه پښتو کتابونه په یو دسمال کښې تړلی وو او ویل یې چه ما دغه کتابونه له یو زاړه قبر څخه را ویستلی دی او دا دی اوس می پښتو ټولنی ته راوړی دی زه له یوې خوا د دې کتابو په پیدا کیدو ډېر خوشاله شوم. خو له بلی خوامی د پښتو په بی وسی او بی کسی ډیر غمجن شوم. یوه زمانه داسی هم وه چه خلکو به د پښتو کتابونه په قبرو نو کښې ښخول ولی چه څوك د پښتو په قدر او قیمت نه پوهیدل. چاله پښتو سره دمینی روغبړ نه کاوه، چاورته په روڼ تندی هر کلی نه وایه، چاورته په درانه نظر نه کتل. هغه وخت رښتیا چه پښتو بې کسه بې وسه او بې څوکه وه. نه یې چا په سر لاس را ښکود نه ورته چا د مینی په نظر کتل لکه یتیمه نجلی په خاورو کښې توغړید له. د خپلی مهربانې مور له غیږې نه محرومه وه نو ځکه یې بې له خاورونه بل ځای ساعت نه تیریده. په د غسی زمانه کښې دا ماشومه ژوندی په خاورو کښې ښخید له.

خو نن د خدای لوی فضل دی چه زمونږ د مهربان حکومت او د اعلیحضرت

محمد ظاهر شاه په حکیمانه نظر دغه مرغلره له خاورو را ووتله او د نورو همزولو په کتار کښې یې د کښیناستو او د رید ځای وموند . په دې رو ښانه دوره کښې د پښتو له سپیڅلی مخه د خاورو گردونه لیری شول او خپله روښانه ځیره یې خپلو مینانو او دوستانو ته ښکاره کړه .

د پښتو پوهانو په زړونو کښې هم د پښتو د پالنې یوه ځلا پیدا شوه او اوس ټول د دې پی مخی مرغلری په قیمت او ارزښت باندې وپوهیدل . پښتو ټولنه له شلو کالو څخه را په دې خوا لګیاده چه پښتو ژبه له خاورو را اوچته کړی او د ساوو او ژوند وژبو په کتار کښې یې ودروی .

په دې دومره موده کښې د پښتو ژوندانه د پاره ډېر څه شوی دی او اوس هم په پوره قوت د دغې ستري ملی وظیفی په سرته رسولو کښې بوخته ده . د پښتو د هرنوی کتاب په پیدا کیدلو د پښتو ادب په تاریخ کښې یو نوی باب زیاتیږی او یو نوی فصل پرانستل کیږی - کوم کتابونه چه د پښتو ټولنې د اعلان په اثر په دې ورځو کښې پښتو ټولنی ته راوړل شوی او پښتو ټولنی په ډېر ښه قیمت دخپلی کتابخانې د پاره اخیستی دی په لاندی ډول ښودل کیږی .

(١) - خزینة القرا: دا کتاب په ١٢٦١ھ کال کښې د شیخ متی په سپارښتنه لیکل شوی دی او لیکونکی یې غلام محمد نومیږی . ددې نسخی لیک دو د پخوانی ښه لرې او خط یې هم ډېر ښه دی . دسر بیتونه یې دادې :

زه الحمدلله وایم خپل خالق په ثناستایم
کل اشیا چه څه پیدا دی و خپل رب ته په ثنا دی

(٢) **پښتو نیرنگ عشق**: دا د حمید مومند یو ادبی شاهکار دی چه د مولانا غنیمت له پارسی مثنوی څخه یې په پښتو الړ ولی دی او په ادبی ټولنو کښې زیات شهرت لری . دغه نسخه دو مره قدیمی نه ده او خط یې دومره پوخ نه دی مګر بیا هم پوره فایده تري اخیستل کیږی.

٣ - د مخزن الاسلام یوه نیمګړې نسخه .

٤ - د رحمان بابا د دیوان یوه قلمی نسخه - دا نسخه دومره پخوانی نه ده او خط یې هم پوخ والی نه لری .

٥- معراج نامه - د پښتو یوه کوچنی مثنوی ده مګر دومره پخوانی نه ښکاری .

٦ - نعت رسول - یوه کوچنی منظومه ده چه شیر محمد لیکلی ده او د پښتو ادبیاتو د تاریخ د پاره ورځنی کار اخستل کیږی .

٧ - نعت عبدالقادر جیلانی - یوه کوچنی منظومه ده چه د محمد ګل فقیر له خوا لیکل

شوي ده . محمد ګل فقیر هم یو نوی شاعر دی چه تر اوسه پوري مونږ ته معلوم نه ؤ او په پښتنا نه شعرا کښې نه دی راغلی .

۸ ـ د بابو جان دعای سریانی ـ دا دعا له عربی نه په روانه او خوږه پښتو ترجمه شوي ده

۹ ـ رشید البیان ـ دا کتاب ملا عبدالرشید لیکلی دی .

دد ي کتاب چاپی نسخی ډیري دی او په پښتو نخوا کښې ز یات شهرت لري . مګر قلمی نسخه یې په کابل کښې بله نه ده لیدل شوي یوازې دغه نسخه نوي لاسوته راغلی ده .

۱۰ ـ د خوشحال خټک دیوان ـ د خوشحال خټک د دیوان دوه نسخی زمونږ لاس ته راغلی دی چه یوه یې په (۱۰۹۹ هـ) کښې د خوشحال له مرګ نه یو کال دمخه لیکل شوي ده . او بله په (۱۱۱۲ هـ) کښې د خوشحال له مړینی څخه دولس کاله وروسته لیکل شوي ده .

۱۱ ـ د محمد نور ملاخیل اشعار ـ دا سړی د (تیزین) اوسیدونکی ؤ د دي سړي اشعار هم پخوا تر دي زمونږ لاس ته نه دی راغلی او په پښتنا نه شعرا کښې هم د ده نوم نشته . له دي کبله دا د بیاتو د تاریخ د پاره پوره اهمیت لری .

۱۲ ـ مخزن الاسلام ـ که څه هم د اخون درویزه د مخزن الاسلام ډېري قلمی نسخي د کابل په کتابخانو کښې شته دی مګر دا نسخه څه قدر پخوانی او زړه معلومیږی . ولی چه د اخون درویزه د نمسی مصطفی محمد په قلم لیکل شوي ده .

۱۳ ـ یو ه دینی رساله ـ چه لیکونکی یې نه معلومیږی او د لیکلو تاریخ یې هم نا معلوم دي خو د لیك دود له مخه د ومره پخوانی نه ښکاری .

۱۴ ـ د سیف الملوك قصه ـ دا قصه ولی محمد نومی شاعر ویلی ده ، شعری روان او خوږ دي او د (پردل) نومی کاتب په قلم لیکل شوي ده . مونږ ته تر اوسه پوري د ولی محمد په نامه کوم شاعر معلوم نه ؤ نو ځکه په پښتنا نه شعرا کښې هم نه دی راغلی . دا نسخه هم زمونږ په فکر ډیر اهمیت لری که څه هم د سیف الملوك قصه په پیښور کښې چاپ شوي هم ده خو کید ای شی چه هغه دي کوم بل شاعر وی .

دغه دی زمونږ نوی قلمی نسخی چه په لنډول وښودل شوي . امید دی چه ورو سته به په مفصل ډول ګرانو لوستونکو ته معرفی کړی شی .

(ر بشتین)

عبدالرحمن

براهویی ژبه او پښتو

په تېره مقاله کښې مو (د بلوڅي او پښتو اړیکې) ترعنوان لاندې یوڅه معلومات ګرانو لوستونکو ته وړاندې کړل او ددغو دووژبو، اړیکې اونژدیوالی په خورا څرګند ډول بیان شول دادې اوس په دې مقاله کښې لومړی تر یوې اندازې پورې د براهویی او پښتو پرتلنه د لغاتو او ګرامر له مخه کوؤ او ورپسې د بلوڅي او براهویی ژبو په پرتلنې اومقایسې باندې لاس پورې کوؤ.

ترڅو چه دهغو کسانو اشتباه رفع شي چه ددوی په عقیده دادواړې ژبې سره بېلې دي.

څه رنګه چه براهویی ژبه د بلوڅي ژبې یوه مهمه لهجه ده نوله دې کبله کوم اړیکې چه د بلوڅي او پښتو ترمنځ شته په براهویی او پښتو کښې هم کټ مټ هغسې ارتباطونه موجود دي چه په لاندې ډول بیانیږي:

۱- (دا) په پښتو کښې داشارې کلمه ده اودنږدې اشارې دپاره راځي لکه: داسړی، داکتاب، داقلم، داکتابچه اوداسې نور. په براهویی ژبه کښې (دا) یوازې داشارې کلمه ده چه دنږدې اشارې دپاره استعمالیږي لکه: دا بندغ؛ داککوړه، داکتاب، داقلم، داکتابچه.

۲- د(ټ ، ډ، ړ ،) ډبل اودرانه اوازونه چه په پښتو اوبلوڅي ژبو کښې استعمالیږي په براهویی ژبه کښې هم مستعمل دي لکه:

براهویی: ناوړه، ډول، مسړ

۳- په براهویی ژبه کښې هم د پښتو په شان صفت ترموصوفه دمخه راځي لکه:

پښتو	براهویی
ښایسته پېغله	شرینګامسړ
ښه سړی	جوانګا بندغ
ښه ملګری	جوانګا سنګت

٤ـ دغه شان په براهویی ژبه کښې هم د پښتو په شان لومړی مضاف الیه او وروسته مضاف راځی لکه :

پښتو	براهویی
دکوټې دروازه	وتاخ نادروازه
زما کتاب	کتا کتاب
ستا کتاب	نا کتاب
دهغه قلم	اونا قلم

٥ـ بل داچه په براهویی ژبه کښې هم دجنس نومونه جمع نه لری او لکه څه رنګه چه په پښتو کښې صفت دجمع په صورت ورسره راځی په دې ژبه کښې هم صفت دجمع په ډول ورسره استعمالیږی لکه:

پښتو	براهویی
تودې او به دی	باسونو دیراو
ښه غوړی دی	جورنو سی او

٦ـ دعربی ژبی (ث، ص، ق، ط، ظ، ض، ع، اوح) تودی په براهویی ژبه کښې هم د پښتو ژبی په څېر په هم مخرج تورو (س، ک، ب، ز او ء) بدلیږی.

مګر په براهویی ژبه کښې یوازی (ف) په خپل اصلی شکل باندې تلفظ کیږی.

٧ـ اوس نو دهغو لغاتو یو څو مثاله د نمونې په ډول راوړو چه پـه دې دواړو ژبو کښې استعمالیږی :

پلو، سپیل، پغور، ډیو (ډیوه) وړ، ناوړ، ډول، چم، لې، ملنډ، ټوټـه ټوټه، جرګه، پټو، جوړ، ناجوړ، ډانګ، کوټ، جولا، ډمبکی (دایره) ډوب، ټپی، متار اوداسې نور. دغه ډول ځینې لغتونه دی چه په دې دوو ژبو کښې په خورالې توپیر سره استعمالیږی اومثالو نو ته یی ضرورت نشته.

داوه د پښتو او براهویی ژبی یوه لنډه پرتلنه چه وشوه اوس راځو خپل اصل مقصد ته او ګورو چه د رخشانی لهجی او براهویی ترمنځ کوم ډول اړیکی موجود دی.

دبراهویی کلمی اصلی ریښه: د بلوچستان تاریخ لیکی چه د بلوخو د یوی قبیلی خلك دانو شیروان په وخت کښې دالبرز په غره کښې د پښتنو سره یو ځای اوسېدل. «پښتانه په هغه وخت کښې داوغان په نامه یادشوی دی» او دفردوسی وینا هم ددې خبری تصدیق کوی لکه چه وایی :

که نزدیك زابل دوسه روزه راه یکی کوه بود سرکشیده به ماه
به یك سوی او دشت خرگاه بود دیگر دشت زی هندوان راه بود
نشسته در آن دشت بسیار کوچ زاوغان و لاچین وکرد و بلوچ (۱)

دغه شان د بلوچستان تاریخ لیکی چه دوی دومره قدرت او اقتدار در لود چه دایران شهنشاه ددوی له لاسه په عذاب ؤ لکه چه فردوسی هم دې ټکې ته اشاره کوی او وایی :

همی رفت وگاهی آمد به شاه که شد از بلوچی جهانی تباه (۲)

مگر دهغې نښتی نه وروسته چه ددوی او دا نو شېروان تر منځ وشوې دوی ماتی ته مجبور شول او له هغه ځای نه یې په لېږدنه او مهاجرت شروع وکړه؛ او د میر قمبر خان په مشرۍ د سیستان ، چاغی ، رود بار خاران او له خاران نه دجاله وان غرونو ته راغلل او له دې ځای نه ور وورو کلات ته ور سېدل . په دې وخت په کلات او دهغه په شاوخوا کښی د هند یوه کورنۍ د (سیوا) په نامه اوسېده چه دهغوی ژبه ډراویدی وه .

د بلو څو دغه قبېله چه ددوی اصلی ځای البرز (برزکوه) ؤ ډراویدیانو دې قبېلې ته (برزکوهی) ویل چه وروسته دډراویدی ژبی د تلفظ سره سم (براهویی) او بروهویی شوه چه اوس هم د پنجاب او سیند خلك دوی ته (بروهی) وایی .

ددغو خلکو د نزدیوالی له امله ددوی ژبی هم یوه له بلی نه متاثرې شوی او دډراویدی ژبی ځینی لغتونو ددې قبېلې په ژبه او ددوی دژبی ځینی لغتونه په په ډراویدی ژبه ورګډ شول .

دغه راز د بلوچستان تاریخ لیکلی چه دغه قبېله د بلو څو لومړۍ قبیله وه چه چه په کلات کښی دیو آزاد حکومت په جوړولو بریالۍ شوه او له دې کبله چه ددوی شمېر لږ ؤ او ددښمن له یرغل نه هم دوی په ویره کښی وونو ځکه یی خپله رابطه دډراویدیانو سره تردې اندازی پورې ټینګه کړه ترڅو چه له یو بل سره یې د و دو نو سلسله هم پیدا شوه .(۱)

درخشانی او براهویی لهجو پرتلنه :

جورج مورګنسټر لنګوسټ په خپل رپوټ کښی ددې دوو ژبو په باره کښی داسی لیکلی :

---

(۱) د پښتو ادبیاتو تاریخ دوهم ټوك استاد حبیبی.
(۲) شاهنامه فردوسی ٤ ټوك.
(۳) د بلوچستان تاریخ لومړی ټوك ـ میر ګل خان نصیر (په اردو ژبه)

۱ ـ ددواړوژبو فونیټکی سیستم ته چه وګورو واولو نه (لنډ ا و ا و ږد ه واولونه) او هغه اوازونه یې چه له خیشوم څخه راوځی سره یوشان دی .

۲ ـ ټول کانسننټونه چه په براهویی ژبه کښی استعمالیږی په بلوڅی ژبه کښې هم مستعمل دی .

۳ ـ کوم احتکاکی اوازونه چه په براهویی ژبه کښی لېدل کېږ ی د بلوڅی په نور و لهجو کښی هم شته مګر دا احتکاکی اوازونه په هغو مستعا ر و کلمو کښی چه په دی دوو لهجو کښی موجودې دی عمومیت لری .

٤ ـ دغه شان واو چه په براهو یی ژبه کښی یوشونډ غاښېز آواز دی د(ف) په صورت نه ویلی کېږی .

یادونه: د بلوڅی ژبی په ځینو لهجو کښی دغه شونډغا ښېز واو په (ب) بدلېږی لکه ابده (۱۷) أبده .

۵ ـ په دې دوو ژبو کښې د تنفسی اواز و نو په منځ کښی هم نژ دیو الی موجود دی. (۱)

ګرامری پرتلنه :

ددې دواړو ژبو ګر امر هم یوراز دی چه په وروسته ډول بیانېږی :

٦ ـ صفت او موصوف : په دواړو ژبو کښی صفت ترموصوفه دمخه راځی لکه :

بلوڅی	براهویی	ترجمه
شرین جنك	شریینګامسډ	ښه پېغله
سیائین کوچك	موننګا کوچك	تور سپی
جوانین بندګ	جواننګا بندغ	ښه سړی

۷ ـ په دې دواړو ژبو کښی لومړی مضاف الیه او وروسته مضاف راځی لکه :

بلوڅی	براهویی	پښتو ترجمه
او تاخی دروازګ	او تاخ نا دروازه	د کوټی دروازه
منی کتاب	کتا کتاب	زما کتاب
ایی قلم	اونا قلم	د هغه قلم
تی کتاب	نا کتاب	ستا کتاب

۸ ـ په دواړو ژبو کښی دجنس نو مونه جمع نه لری او فعل ورسره د جمع په ډول راځی لکه :

(۱) دجورج مور ګنسټر رپوټ ۱۹۲٤ ص ۱۰

بلوڅي	براهويي	پښتو ترجمه
جوانين روگن انت	جوانو سي او	ښه غوړي دي
جوانين چايي انت	جوانو چايي او	ښه چاي دي
لا ډين آپ انت	باسونو دير او	تودې او به دي

۹ ـ پرته له (ف) نه د عربي ټول تودي په براهويي لهجه کښې درخشا نې لهجې په شان ويل کېږي او د (ټ ، ډ ، ړ) ډبل اوازونه په دواړو کښې مشترک دي .

۱۰ ـ دمشترک لغتونو څو مثاله چه په دې دواړو ژبو کښې استعمالېږي دادي:

بلوڅي	براهويي	پښتو ترجمه
گد	گد	خمتا
مچ	مچ	ټول
پټ	پټ	بيابان
گرانډ	گرانډ	مېن
ناهار	ناهار	ځناور
سيم	سيم	سرحد
ډونگ	ډونگ	غدي

بلوڅي	براهويي	پښتو ترجمه	بلوڅي	براهويي	پښتو ترجمه
گوربام	گوربام	چرگ بانگ	شهنگ	شهنگ	خپرېدل
ډنډ	ډنډ	ډنډ	چلو	چلو	گوتمه
ونډي	ونډي	ونډي	کلي	کلي	مشکوله
نيم روچ	نيم روچ	غرمه	ماري	ماري	بادي اوښ
تهار	تهار	تورتم	مزار	مزار	زمري
ډيو	ډيو	ډيوه	نود	نود	وريغ
ډنگ	ډنگ	ډانگ	سهيل	سهيل	سهيل
بگ	بگ	داوښانو گله	ميار	ميار	پناه
آوار	آوار	آوار	سرگشت	سرگشت	خيرات
پلو	پلو	خوا	اگام	اگام	وريغ
جمر	جمر	وريغ	پادي	پادي	پايلو
ککوړ	ککوړ	ککوړ	اوداسي نور.		

۱۰ـ دهغو لغتونو څومثاله چه په لږ فرق سره په دواړو ژبو کښې استعمالېږي دادي :

بلوڅی	براهویی	پښتو ترجمه	بلوڅی	براهویی	پښتو ترجمه
دسکهچ	دشخیچ	خوښېنه	شورنگ	شورن	شپون
جنی	جن	ورا	شپ	شف	شپه
اتپار	کفتار	کوږ	شگام	شغان	پېغور
بزگر	بزغر	بزگر	مهلنج	مهلنج	معشوقه
ډگار	څمکه	اوداسی نور			

دبلوڅی ژبی مختلفو لهجو ته یوه کتنه

که مونږ دبلوڅی ژبی ټولی لهجی ترغور اوڅېړنی لاندی ونېسو نو څرګندېږی چه دنورو ژبو په څېرددې ژبی په محلی لهجو کښې هم څه فرق موجود دی .

دبلوڅی ژبی مختلفی لهجی پردرو برخو باندی ویشلی کېږی :

شمالی لهجه، جنوبی لهجه اوغربی لهجه چه اوس نوددې لهجو فرق یو له بله سره بیانول غواړو .

۱ـ دمصدر علامه: په شمالی لهجه کښی دمصدرعلامه(ګ) اوپه جنوبی لهجه کښې (غ) دی پەغربی لهجه کښې لږ(تن)هم استعمالېږی لکه:

شمالی لهجه جنگ ، کنگ، ورگ، دئیگ

جنوبی « جنغ، کنغ، ورغ، دئیغ

غربی « جتن، کرتن، وارتن، داتن

۲ـ فاعلی علامه: په شمالی اوغربی لهجو کښی(وك)اوپه جنوبی لهجه کښی(وخ) دی لکه :

شمالی اوغربی لهجی: جنوك، کتوك، وروك، دئیوك

جنوبی لهجه: جنوخ، کنوخ، وروخ، دئیوخ

۳ـ ځینی لغتونه دی چه په شمالی لهجه کښې په «پ» اوپه جنوبی لهجه کښی په «ف» ویل کېږی لکه:

شمالی: آپ، تپ، شپ، لاپ

جنوبی: آف، تف، شف، لاف

٤ـ دشمالی لهجی ج اوچ په جنوبی لهجه کښی په ژ او ش باندې تلفظ کېږی مګر داشی عمومیت نه لری لکه:

شمالی اوغربی: واجه، بوج، مج، چېرا، اوچ، اج

جنوبی : واژه، بوژ، مژ، شېرا، روش، اش

۵ـ دغه شان ځینی لغتونه دی چه په شمالی اوغربی لهجو کښې پەڅرګندا واوبدده

واواو په جنوبی لهجه کښې بیا په زیر ویل کېږی لکه :

شمالی اوغربی: بوت، زوت، زور، سور، زوم، نون، مود

جنوبی : بیت، زیت، زیر، سیر، زیم، نین، مید

یادونه: څرنګه چه په بلوڅی ژبه کښې زیر نشته نو په کوچنی (ی) لیکل کېږی اودلته په شمالی لهجه کښې واو چه یوغږیز کومکی اوا زدی په دی چه یو بل کومکی آوازدی بدلیږی البته داشی دفلا لوجی له مخه یو عادی کا ر د ی .

٦ـ دشمالی او غربی لهجواکثره کلمی چه (ه) لری دا (ه) په جنوبی لهجه کښې په خ ویل کیږی او په مخنو برخو کښې په (ك) بدلیږی لکه :

شمالی . آهته , داهته ، ریهته ، گوهته ، تاهته

جنوبی : آخته ، داخته ، ریخته ، گوخته ، تاخته

په نوروځایو کښې : اتکه ، داتکه ، ریتکه ، گوتیکه ، تتکه

که چیری (ه) دکلمو په اخر کښې وی په خپله اصلی شکل پاتې دی و یل کېږی

٧ـ دمفرد اوجمع متکلم فعلونه په شمالی او جنوبی لهجو کښې فرق لری

٨ ـ د مستعار و کلمو (غ) په اکثرو لهجو کښې په (گ) او (ف) په واو بدلیږی لکه :

غلام ، غله ، مرغ ، افغان ، افغانستان ، افغانی

گلام ، گله، مرگ ، اوگان ، اوگانستان ، اوگانی

(١)

داو وهغه مهم فرقونه چه د بلوڅی مختلفو لهجوتر منځ شته البته ځینی نور جزئی اختلافونه هم لپدل کېږی چه دیا دونې وړنه دی.

---

(١) په دې برخه کښې د بلوڅی د (ماهتاك) نومی مجلی څخه استفاده شوې ده .

د علم اللغت له کتاب نه

د ښاغلی سیفی اخیستنه:

د دکتور علی عبدالواحد وافی تالیف .

د لغاتو عمومی بدلون

ژبه اولغت د خپل تطور او ارتقاً په دوره کښې د ډېرو عواملو د تاثیر لاندې راځی چه له د غو عواملو څخه ډېر مهم او اساسی عوامل دا دی :

۱ ـ له پخوانیو څخه راتلونکی نسل ته د ژبی انتقال .

۲ ـ د نورو ژبو د تاثیر لاندې د ژبې راتلل .

۳ ـ اجتماعی ، نفسی او جغرافیائی نور عوامل ، لکه د ټولنی تمدن نظام، عادتونه ، د ودونه ، عقائد ، ثقافت ، د تفکر ډول او نور .

٤ ـ هغه اد بی اساسی عوامل دی چه د ژبی نطا قان ور څخه د خپلو خپلو ذ و قو نو او قریحو سره سم کار اخلی او د پوهنځیو او پوهنتو نو او د ژبی د زده کړی په ښوونځیو کښی معلمان او ښوونکی هغو ته درسونه ور کوی او د هغو د مرستی او حمایې په لار کښې زیارونه باسی .

دتپر نسل څخه راتلونکی نسل ته دلغت انتقال او په لغوی تطور کښې دهغه تاثیر :

دا یو منل شوی حقیقت دی چه کوچنیان د مور او پلار او د شا او خوا کور

کهول د خلکو څخه ژبه اوخبرې زده کوی ، او دا همښکاره خبره ده چه د هر ملت ژبه او لهجه د تېر ملت د ژبی او لهجی څخه په ډېرو مظا هر و کښې لږ ډېر فرق لری ؛ په تېره بیا د صوت او آواز په مظاهرو کښې .

د دې اختلاف او تطور لویه او مهمه برخه ځینی نور ډېر داسی عوا مل د ی چه په هغو کښې د یوې طبقې ټول افراد شریك وی په دې ترتیب چه حاضر ه طبقه د تیری پخوانی طبقې څخه په د غو عواملو کښې ډېر امتیاز لری لکه په انسانی کورنیو کښې د خبرو د غړو طبیعی ارتقا او دا ځکه چه د و ینا غړی او یا په بل عبارت هغه غړی چه خبری وربا ندې کېږی هم د ا نسا نی غړ یو په طبیعی تطور کښې داخل دی او په دې اساس هره حاضره طبقه د تیری پخوانی طبقې د خلکو په نسبت تفا و ت لری او همد غه راز عقلی قوا هم دخپلو ټولو انواعوسره له دغه طبیعی تطور څخه بې تاثیره نه شی پاتې کېد لاې نو پـه دې اساس په دغو عقلی قواوو کښې هم نسبت پخوانه تطور او تغیر پیدا کېږی نو په دې اساس په آواز او دتفکر په ډول کښې درا تلونکی نسل تغیر یوه لازمی نتیجه ده .

کوم خطا او غلط الفاظ چه د یوې ټولنی د کوچنیانو په خولو کښې خپاره شی او ځای ونیسی اومشران دهغو دغه غلطی ا صلاح نه کړی اویا په بل عبارت مشران دغه کـارته ا همیت ورنکړی ؛ او یا په یوه ټو لنه کښې خلك د ځینو اجتماعی ضرور یاتو او یا نورو مخصوصو عواملو په اثر د خپلو مطالبو دا فادې د پاره ځینی کلمی د خپلو اصلی معنا گانو څخه راجلا کړی ، په نورو مجاز ی اوور نژدې معنا گانو ئې استعمالوی ، او دغه الفاظ راتلونکی نسل ته په همدغه معنا گانو را نقل شی ، او همد غه راز هغه مخصوص نظا مو نه او روا جو نه چه قامونه او ټولنی ئې دخپلو کوچنیانو د پاره په ښوونځیو او کورونو کښې د ژبی

دښوونو په خصوص کښې لري داټول هغه عوامل دي چه دا عوامل نړۍ په ټولو قامونو کښې عمومیت او رواج لري ، او همدا هغه عوامل دي چه دتیري طبقې دژبې او لهجې څخه د راتلونکي طبقې په ژبه او لهجه کښې فرق او تغیر راولي .

ددې پورته کرښو په پرڼا کښې انسان دې حقیقت ته رسېدلای شي چه دلغوي بدلون حقیقي عوامل هغه جبري عوامل دي چه انسان پکښې هیڅ اختیار او واك نه لري او خلك ددغه تطور مخه نه شي نیولای که څه هم خلك ددې کار دمخ نیوي دپاره مخصوصې قاعدې جوړې کړي او خپل ټول ممکن قوتونه په کار واچوي .

په دې خبره کښې شک نشته چه کله کله یوه ټولنه دا کار کولای شي چه د خپلې ژبې لیکنه او لیك دو تر یو وخته پورې دخپل کنټرول او ادارې لاندې په خپل پخواني حالت له تغیر څخه محفوظ وساتي ، لیکن د کومې ژبې لیکنه چه په دغه ډول په خپل پخواني حالت جامده وساتلای شي نو دغه لیکنه په دې صورت کښې د خپلې ټولنې دلغوي ژوند پوره اوسمه نمایندګي نه شي کولای او ددې کار په نتیجه کښې دپخواني لیك دډول او یا په بل عبارت د پخواني لیك دوداو دوروستي او نوي نسل دژبې او محاورې په منځ کښې او یا په ښکاره ډول د لیك او محاورې په منځ کښې له یو بل څخه ډېر زیات لري والي راپیدا کېږي او دا ځکه چه په پورته صورت کښې دیو تطور مخه نیولې شوي ده او دبل یعني دمحاورې مخه څوك نه شي نیولای او ددې کار لازمي نتیجه داده چه لیك له محاورې او محاوره له لیك څخه بېګانه کېږي او د خپلې ژبې لیك دخلکو څخه لکه دپردي ژبې دلیك غوندې پردي او بېګانه کېږي د همدې حالت سره کټ مټ فرانسه ، ایطالیا ، رومانیا ، اسپانیا او پرتګال په هغه وخت کښې مخامخ شول چه په دغه وخت کښې ددوی دلیك ژبه لاتیني وه .

اوددوی دمحاورې ژبه فقط په خبرو اومحاورو کښې بنده اومحصوره پاتې وه لکه چه کټ مټ همداحالت نن په مصر اونورو عربي ممالکو اوشمالي افریقا کښې هم دی چه په دې ځایو کښې فصیحه عربي ژبه دلیك او کتاب لاندې راغلې ده یعنی دغه فصیحه ژبه لیکل کېږی اونورې دخلکو په خولو او محاورو کښې د شونډو په سرولاړې دی .

لیکن د ژبو اولهجو دغه جمود تر هغه وخته پورې دوام کولای اوتر ډېره وخته پاتې کېدلای شی چه دغه ژبی اولهجې قوی ریښې اودترقی پوره استعداد نه لری او یوازی د ضروری افکارو اوضروریاتو دترسره کولو دپاره یوازی دمحاورې د ژبی په حیث ورڅخه کار اخیستل کېږی ، مگر هر کله چه وه ژبه خپل پوخوالی ته ورسېږی بنسټ یې پوخ شی ، پوره وده وکړی لمن یې ارته شی اومفردات یې په واضح اومعقول ډول استخدام کړای شی د ژبی فنون اودتعبیر اصول یې ټول انکشاف وکړی اوپه دغه ژبه کښې مختلف آداب اوعلوم ځای کړای شی نو په دې صورت کښې دغه ژبه ورو ورومخ به وړاندې ځی اودتشې محاورې څخه د کتابت اولیك په میدان کښې ځای نیسی او کومه ژبه چه دغه شرطونه نه لری هغه دمنځ نه ځی اودنورومړ وژبو په ډله کښې ځای نیسی اوداهغه کار دی چه دلاتینی ژبی سره دمحاورې اوخبرو دژبی سره په فرانسی اوایطالیا اورومانی او اسپانیا او پرتگال کښې شوی دی د جامد کتابت ژبه په داسی شرطونو او حالاتو کښې د کنگل یوداسی غره سره مشابهت لری چه هغه غرد بحر په سطح ولاړ اوپروت وی اودژبی او محاورې ژبه د کنگل دهغې نری پردې مثال لری چه دیو بحر داوبو په مخ غوړیدلی وی اودهغی لاندې اوبه څپی وهی ، مگر داثابته خبره ده چه داډول کنگل ډېر دوام نه شی کولای ځکه چی دا پرده ډېره ژرویلی کیږی اودبحر دڅپو سره ملگری اویوځای کېږی اودسمندر دنورو اوبو سره یوځای

دبحر دسطحي دپاسه څپي وهي اوهمداژبه د کتابت خپل اصل مقام نيسي اومړه ژبه دخپلو څپو په ذريعه غاړې ته غورځوي اوخپل قام او نسل ته دهغو د ژوندانه دنشاط مظاهره وړاندي کوي.

ليکن په دې لړ کښي يوه ژبه دبلي ژبې دتاثير لاندي راځي اودبوې ژبې او بلې ژبې مفردات په خپلو کښي ديو بل سره گډېږي ددې کارمهم عامل د يوې ژبې او لهجې گاونډي توب اوځينې نورشيان دي چه دهغو په اثر يوه ژبه دبلې ژبې دتاثير لاندي راځي هر کله چه دا يو ضروري کاردي نودا يوه منل شوي خبره ده چه هره ژبه هروه رو لږ ډېره دبلې ژبې دتاثير لاندي راځي چه دژبو بدلون ددې کار لازمي نتيجه ده.

دتور دادوره اول له مفرداتو څخه شروع کېږي په دې ترتيب چه اول د ژبو په منځ کښي دلغاتو دبدلون اوځينو اقتباسونو سلسله شروع کېږي

لکه چه دا کار دترکي فارسي عربي ژبو په منځ کښي اودسرياني او يوناني ژبو په منځ کښي او همدغه راز دفارسي او عربي ژبي په منځ کښي هم ډېر ليدل کيږي ليکن په دې لړ کښي بايد دا خبره هم په نظر کښي ونيولاي شي چه دژبي دلغاتو او مفرداتو سره دژبو قواعد اوداواز ډولونه اوطريقي بلې ژبي ته بې دهغه وخت نه چه دغه ژبي يوې بلي ته ډېرې نږدې وي په نورو صورتونو کښي نه نقل کيږي ليکن که ددې انتقال مخه ونه نيولاي شي نو په دې صورت کښي دڅه مودې وروسته دغه کار ددغې ژبې دفنا موجب کېږي

کله چه يو لغت ديوي ژبې څخه بلې ژبې ته داقتباس په ډول ولاړ شي نو دغه اقتباس شوي لغت دهغې ژبي صوتي قانون تابع کيږي اودغه اقتباس شوي لغت په هغه ژبه کښي د ډېرو تحريفونو او زياتو تغيرونو سره مخامخ کيږي په دې ډول ددغې کلمې پخواني بڼه اوصورت بيخي اوړي همدا سبب دي چه کومي کلمي چه عربي ژبي ديوناني اويا فارسي

ژبی څخه داقتباس پهډول اخیستی دی هغه دخپل اصلی اوپخوانی صورت څخه بیخی راوتلی او دعربی ژبی پهصوتی قالب کښی اچولی شوی دی؛ همدا سبب دی چه موږ وینو چه یوه کلمه دبوې ژبی نهډیروژبو ته نقل کیږی اودغه یوه کلمه پهمختلفو ژبو کښی پهجلاجلا بڼو اوشکلونو کښې دهری ژبی پهجلاصوتی قالب کښی لیدل کیږی.

دمثال پهډول کومی عربی کلمی چه اروپائی ژبو ته نقل شوی دی دغه کلمی په هره اروپائی ژبه کښې پهبیله بڼه اوشکل لیدلی کیږی.

داانتقال پهدی سلسله کښی یوازی دکلمو پهبڼه اوشکل کښی تغیر نهراځی. بلکه داکارد کلمو په اصلی معناگانو کښې هم ډیر تغیرراولی، په دی لړ کښی کله کله هغه کلمهچه په یوه عامه معنی استعمالیږی هغه پهیوه خاصه معنی کښې محدوده شی او کله هغه کلمه چه پهخاصه معنی کښې استعمالیږی په عامه او یاډیره مجازی معنی کښی استعمالیږی.

دلغاتو او کلمو داقتباس دډیروالی اولږوالی مسئله دقامونو دمادی او ثقافتی رابطو اوتماسونو اونورو تعلقاتو پهډیروالی اولږوالی پورې تړلی ده اوهرڅومره چه دغه علاقې اورابط زیاتیږی هماغومره دغه اقتباسونه اودبوې ژبی نه بلی ژبی ته دلغاتواو کلمو نقل اواقتباس ډیریږی، اوداکار پهههغوقامونو کښې ډیر زیات پیښیږی چه دواړه سره پهیوځای کښی ژوندواستوګنه کوی.

دمثال پهډول انګلیسی ژبی لهنورماندی ژبی څخه دومره کلمې او لغتونه اخیستی دی چه دبلی ژبی څخه ئې نهدی اخیستی، اوداځکهچه نورماندی عسکرو په انګلستان کښې ډیره موده تیره کړې وه؛ اوهمدغه راز لاتینی داغریقی ژبی څخه ډیراقتباسونه کړی دی اوداځکه چه دادواړه قامونه سره گاونډیار وو اوهمدغه راز دعربی اوفارسی اوترکی ژبو په منځ کښې داقتباس دا سلسله ډیره

زياته وه؛ په دې ځای کښې بايد داخبره هم په نظر کښې ونيولای شی چه يوقام دبل قام دژبی څخه په هغه صورت کښې ديوې کلمې يااصطلاح او بالغت اخيستلو ته اړ کېږی چه دهغې ژبی خاوندان له دې څخه په ځينو چارو کښې وړاندی وی؛ همداسبب دی چه له فارسی اويونانی ژبو څخه عربی هغه الفاظ او کلمې اخيستی دی چه ددوی له مادی اوفکری اړخونو سره يې علاقه لرله همدغه راز انگليسی ژبی له نورماندی ژبی څخه هغه الفاظ اخيستی دی چه هغه د خوراك او چښلو او نورو سره تعلق لری اوداځکه چه نورماندیان له انگليسانو څخه په دې شيانو کښې وړاندی وو.

همدغه راز په بحری چارو کښې ډېرې کلمې يونانی ته اوله يونانی څخه لاتينی ژبی ته دفنيقی ژبی ډېرې کلمې نقل شوی دی اوداځکه چه فينيقيان په دې چارو کښې له دغو نورو څخه وړاندی وو

همدغه راز په دينی اوفلسفی اصطلاحاتو کښې ډېر اغريقی لغتونه لاتينی ته وړل شوی دی اوداځکه چه اغريقيان په دې ميدان کښې وړاندی وو.

همداسبب دی چه فرانسوی ژبی ته دجرمانی ژبی څخه دحربی چارو په خصوص کښې ډېرې کلمې اوډېر لغتونه نقل شوی دی چه دهغو څخه يوه په خپله (La Guerre) دحرب کلمه ده، اودايطالوی ژبی څخه ډېرې هغه کلمې چه دموسيقی اودموسيقی آلاتو او نوروجميله فنونو سره تعلق لری نورو ژبوته ورننوتلی دی؛ په دې ډول ډېروارو پائی ژبوته ډېر هغه لغتونه چه دسپورټ اولوبو سره تعلق لری له انگليسی څخه نقل شوی دی اوهمدغه راز دفرانسوی ژبی څخه ډېر هغه الفاظ چه د کاليو او د خورا کونو په اقسامو پورې تعلق لری نورو ژبوته ورغلی دی.

په دې شان دزراعتی محصولونو اوتجارتی مصنوعاتو نومونه اوياد هغو ځايونو

نومونه چه دغه چه دغه شیان پکښې جوړ پېژی او یا پیدا کېږی نوروژبو ته ور نقل کېږی او په دې ترتیب دغه راز راز لغتونه په نورو ژبو کښې رواج پیدا کوی .

دمثال په ډول دچای کلمه د مالیزی (Malaisie) له جزیر وشخه په ټوله نړی کښې خپره شوې ده او داځکه چه دا بوټی په دی نوم اول په دغه ځای کښې پیدا شوی دی همدغه کلمه په عربی کښې چای «شای» په فرانسوی کښې thé په انګلیسی کښې tea او همدغه ډول دطباق کلمه ده چه دا کلمه دامریکی د اصلی اوسیدونکو یعنی دهغوی له اصلی ټاټوبی څخه دنړی نوروژبو ته تللې ده او داځکه چه د اماده لومړی په امریکې کښې کشف شوې ده (طباق) په عربی کښې ، په فرانسوی کښې (tapac) په انګلیسی کښې (topacco)

په همدې ترتیب اروپائی ژبو ته هم دعربی ژبی ډیر لغتونه چه له زراعتی او صنعتی چارو سره تعلق اری ورننوتلی دی لکه لیمو او موصلی (دا یو مخصوص ټو کردی چه په موصل کښې او بدل کېږی) او زعفران ، شراب ، سکر ، کافور ، قنوة (د ګنو یو ډول شربت دی چه په پښتو کښې ورته پاپړا او کبوړی وائی) قهوه ، قطن ، قرمزی ، کمون ، د مشقی (یو ډول ټو کردی چه په دمشق کښې او بدل کېږی)

په انګلیسی کښې.

Lemon. Muslin, Saffron, Sherbet ,Syrup, Sugar, Camphor, Candy, Candy . Cotton, Crimson, Cumin, damask

او په فرانسوی کښې :

Limon· mousseline, Safran, Sorbet, Sirop, Sucre. Camphre, Candi Café, Coton. Cramoisi. Cumin, damas.

نومیالی پوهان

مجاور احمد زیار

دملا درمحمد ځاځی شاعری

دوه ویشت کاله پخوا دپښتانه شعراء په دوهم ټوک کښې د دغه خو ږژبی شاعر یوه لنډه پیژندګلی له دوه چار بیتو سره ثبت شوې وه مګر تر اوسه پوری دهغه دپوره پیژندګلی او شاعری په باب کوم باوری او مفصل معلومات په لاس کښې نه وو ما همدغه څومیاشتی دمخه چه دژبنیو څیړنو له پاره پکتیا ته تللی وم دملا درمحمد دکور او کهول پته می دځاځیو داحمد خیلو په کمکی مشری کښی ولګوله او دهغه یو وراره ملاخیر محمد زما پوره سود او ویستله.

ملاخیر محمد په خپله هم به شعر و شاعری کښی ګوتی وهی او په لیک او لوست دومره پوهېږی چه خپل او دخپل تره اشعار د کاغذ مخ ته ورسولی شی. دهمدغه په برکت یې دملا درمحمد داشعار ویوه برخه د (۱۳۳۰) شمسی او هجری کال د قوس په میاشت کښی دهغه له قلمی دیوان څخه را نقل کړې ده وویل چه دملا درمحمد داشعار و دمجموعی بشپړ نقل دچار دهی غوربند د یو سړی سره او اصلی نسخه یی چه خپله د ملا درمحمد په ګوتو لیکل شوې ده د کورمې له یوه تن اوسېدونکی ودت خان نومی سره ده.

دملاخیرمحمد دوبناله‌مخی دملا درمحمد پلارپه‌حافظ مین‌خان مشهوراو دهمده‌په تخمین‌سره دپنځوسو کالوپه‌عمر وفات‌شوی‌دی‌چه همدومره کلونه‌یی له و فاته تراوسه‌هم کیږی(۱)دخپل وخت رواج اسلامی علوم لکه تفاسیر ، احادیث ، فقه ، صرف ، نحو ، معانی او میراث یې دننگرهار له بیاوړو علماؤ او مدرسینو څخه زده کړی وو او د عمر تر پایه‌دهمدغو علومو په تدریس بوخت‌ؤ دی په خپله زمانه کښې‌دپکتیاله مشهورو پوهانو اوښوخلکو څخه بلل کېده .

ملاخیرمحمد دخپل‌تره د پاتی شوو روایاتو له مخی‌د هم هغه له خولې کیسه وکړه : کله چه په ځلمیتوب کښې مین‌شو اوله مینتوب سره‌سم‌یی په زړه کښې دشعرغلبلی راوبوګنېدلی نواووه کاله‌یی هیڅ خوب ونه کړ او همدا شعرونه به‌یی ویل ، له‌ورځونه یوه ورځ وه چه‌له‌غره‌نه راته اوډېرستړی ستو مانه‌ؤ نوپه یوه چېنه کښې‌یی اوبه څښلی‌وربسی هماغلته ویده‌شوپه خوب کښې‌یوناڅاپه وبوګنید اچه راپورته شو څه‌نوی خیالات یې په مغزو کښې پیدا شول د لرګو پېټی یی دهماغې چېنی په‌خوا کی وغور ځاره خپل کور او کوډله‌یی پربښوده اوزده کړې ته‌یی ملا و تړله .

له همدې سببه د ملادرمحمدشاعری لومړی دمجازی مینی رنګ‌لری اوبیا یی مذهبی‌او تصوفی بڼه موندلې ده ورو ورو بی دفکرنیلی د مجاز له د ایرې و تلی اودحقیقې‌دینا ډګرته‌ورګډ شوی‌دی ،هرڅومره چه‌دځوانی‌له مرحلې اوښتی‌دی هماغومره یی د حقیقی عشق بلوشې په شعر کښې ځای نیولی دی .

ملا خیرمحمد د خپل‌تره د ژندانه وروستی کلونه دځاځیو په علی خیلو کښې

(۱) پښتانه‌شعراوده دژوندوره د(۱۲۷۰) کلو په‌شاو خوا کښې اټکلوی چه له‌پورتنی روایت‌سره نیژدیوالی لری.

ښیی چه هلته یی طالبانو ته تدریس کاوه (۱)

او وایی چه همدغلته وفات اوښخ شوی دی . دملادرمحمد له خپل اولادڅخه بوازې یوه اور پاتې وه چه هغه هم اوس مړه شوی ده کېدای شی چه دهم دغه لورله خوایی کوم لمسی یالمسی ژوندی وی .

دادی د ملادرمحمد داشعارو یوڅو غوره نمونې وړاندې کېږی :

سترګی توری په رنجو (۲) د پاولو شرنګ راځی
ورو په ورو جلی قدم په تماسنګ راځی (۳)

سترګی توری په رنجو مخ خودی اوردینا
دچارګل په کنارو دې غمی سپوردینا

وابی پته . . . (٤) جلی نن دماغ دې نوردینا
توری زلفې دی سینې ته درنګ په درنګ راځی

سترګی (٥) توری په رنجوزه په ضروره یم
کټ به سم کړم مازیګی (٦) وته مزدوره یم

قدرنه لرم عالم کښې مشهوره یم
قدرنه لرم مازی (۷) ماله په جنګ راځی

سترګی توری په رنجو غاښونه سپین لری
بل په غاړه دې پیلی لونګین لری

---

(۱) دپښتانه شعراء دوهم ټوک دهغه مړینه او قبر دننګرهار په ماماخیلو کښې ښیی .

(۲) دپاولو په ځای زلفې وی چه ماته وړنه برېښیدې .

(۳) تماسنګ - ټوکه : ځاځی وایی : - تماسنګ کوی ؟ یعنی ټوکې کوی .

(٤) دلته همداسی لیکلی مسره لاسته راغله .

(٥) شاعردابند دمعشوقی له خولې ویلی دی .

(٦ - ۷) مازیګی اومازی دواړه دموزی اوموزیګی معناور کوی .

تور پلکی (۱) دورو ځو پاسه په جبین لري
در محمد لره چار بیتی رنګ په رنګ راځي

✡ ✡ ✡

پر پږده چه پر یاد کړم یار په مینه کښې رنځوریمه
غشی مې په زړه خوړلی دی لکه منصوریمه
در ته یې ویلاړیم والیلا، په زړه ویجاړیم
هیڅ علاج می نه شی طبیبانو کښې معذوریمه
زلفې الوول کړم خوږو زړو نوته خندل کړم (۲)
سپینه خوله به در کړم زه خوشحاله په پیغوریمه
زلفې مې کږې وږې، تل وهم ناري سورې
برخه ازلی مې قسمت شوې په ضروریمه
پېره دستګیره زړه (۳) مرامې کړه بر سېره اوس
در کښې دې ولاړیم در محمد غلام مزدوریمه

یوه بله نمونه:

راغلی له ښه خدایه یو کتاب نوم یې قرآن
په سر یې بسم الله ده مونږ راوړی پې ایمان
راغلی له ښه خدایه یو سورة نوم یې بقر
چه وایی یمه په خوله کښې خوږ مې شی د ژبې سر

(۱) د محاجیو په لهجه کښې پیکی ته پلکی ویل کیږی.
(۲) دې شاعر په خپلو زیاتو غزلو کښې دا ترتیب نیولی دی چه لومړی برخه یې د مین له خولې او دوهمه برخه یې د مینې له خولې وایی.
(۳) د محاجیو په لهجه کښې دا ضافت (د) زیات دودنه دی.

صفت به یې کومه زور یې دی په پېښور
خاوند ه جنت ورکړی ښه یې وایی حافظان

✲ ✲ ✲

راغلی له ښه خدایه یو سورة نوم یې یاسین
او دا زړه د قرآن دی ښکلوم یې په جبین
صفت به یې کومه ګوندې را کړی خدای ښه دین
بل څی به د دنیا نه د هر چا ګوښې کاروان

✲ ✲ ✲

راغلی له ښه خدایه یو تبارك الذی
چه څوك یې وظیفه کاندی جنت ته به وړځی
او سپور به په براق وی ده په لاس به وی نېزی
په تخت به کښینوی چار چاپېر ترې نه حوران

✲ ✲ ✲

راغلی له ښه خدایه یو سورة مزمل
چه څوك یې نه منی ملګری دی دا یو جهل
وروستی به پسی راشی قهرو ونکی عزرائیل
وهی بی یه ګرزو به ټول وجود بی (۱) کاویران

✲ ✲ ✲

راغلی له ښه خدایه خلق به ورشی په آپول (۲)
حساب کتاب به کیږی ناست به وی زمونږ رسول

(۱) بی = به یې (۲) آ = ها د «هغه» مخفف شکل

الله په ده مین دی دی د خدای په در قبول
په تخت به ور ته ناست وی تری چا پېر څلور یاران

* * *

راغلی له ښه خدایه خلکه مه دیر وریء (۱) وسواس
ښادی به مونږه نه کو (۲) چه را کړی بې دی خناس
بل داسی ملا وایی چه سورة دی د والناس
ایمان پې تازه کیږی « در محمد » کړی بیان

دغزل یوه نمونه :

په ژړامې سترګی سری لکه کو کنار — و روی تری نه شبنم دنو بهار
په وجود دې او ر راپورې کړ ناترسې — تاچه بیر ته کړ پلوله خپل رخسار
نه پوهېږم یارمې شهددی که شکری — ماترفمه شیرین شوی دی اخبار (۳)
کیږ مکیږ مه کوه تل په عاشقانو — ډېر خالونه ولونه کړی خاوروزار (٤)

مه وایی ءپه در محمد باندی تومت
هرعاشق د معشوقې دی خد متګار

د ملا در محمد دزنځیری چار بیتی مثال :-

کله به زاو ړې دواړه لب شیرین ګفتار یو وار،
زلفی دې تار په تار و سوم په اور

---

(۱) دیروریء = دروړیء یادرولیء .
(۲) د (نه کو) پوره شکل (نه کو و) دی چه د لته شاعر د شعری ضرورت له مخی مختصر کړی دی .
(۳) ماترفمه په اصل کښې (زماترفمه) دی چه د لته بیا د اضافت (د) حذف شوی دی .
(٤) په دې مصرع کښې یو انتباهی مطلب پروت دی .

کله بهر اوړي دو اړه لبز نه دي قند پیو ند

راوړه په خوند په ژوند که خدای ته ګوری

سري دي منګلي زړونه وړي په هر ساعت

اوچت وایي غیبت تومت د یا ریه لوري

نیا زمنی جلی پیزوان بیاپه شونډوسپور په زور و سوم په اورلیانورسترګی بي توري

له ډېر ي مینې مي دزړه په سر پرهار دیار کړی په شمار ، یووار ـ ټو ټي څلو ر

✲ ✲ ✲

دالو نګین په سینه وړي لکه غنچه سو چه سینه با غچه د چه (۱) نصیب نیولی

ثانی یي نشته تمامی صورت یي ګل، سنبل ګوره چار ګل دجل (۲) سري یي منګو لي

چه ما ز دیګر بي په سرو وینم شال ، پیمال مه کوه خیال جنجا ل مستی بلبلی

لاس مي درپر ېز ده دروپیو په کتار یو وا ر خال په رخسار دیار ـ په جبین سور

✲ ✲ ✲

ز لفی دي بیا په سینه سپو ري کړ ي خو ري وري وهم سوزي ناری ، نشته دلبر

څو ك چه میز شی زړه یي واړه شی اریز مر یز نه کی (۳) هر ګیز (٤) پر هیز په ماز یګر

دغه نیاز منی جلی بیازلفی غور ځنګ په څنګ سازونه رنګ په رنګ کوی هنر

دیا ر د پاره مي ساتلی د وه انار تیار سینه ګلز ار ګلبا ر وا یم په ز ور

زړه مي ګوګیل (٥) کښي ډېري مینی کړ خراب تراب نه کی (٦) حسا ب کتاب

شو نډی مینی لاس مي نیولی سوال کوم دخدای په دردیګر ،غوڅ مي زړه سر ځیګر ،

څاڅي مي وینی ویشتلی م ما ریګر مستی ښارو په ورودشونډو سرودارورا که دمینی

کمکی دي مړ وای په ماخاوري وای انبار انبار درمحمد خوار ویزار له بدو نور . (۷)

---

(۱) چه : چا . (۲) جل : نجل . (۳) نه کی : نه کوی

(٤) هر ګزی : هر ګز (٥) ګوګیل : ګوګل . (٦) نه کی: نه کوی

(۷) داچار بیته د پښتانه شعرا دوهم ټوك هم قید کړی ده .

چار بیته

خال دی وهلی په جبین نا ترسی اورلري زلفی څلور لري

✡ ✡ ✡

خال دي وهلی په جبین څومره دماغ لري دګلو باغ لري
دعاشوقانو زړه غلبیل غلبیل سوراغ (۱) لري ښکلی ایراغ (۲) لري
پرات م بی هوشه ربه ـ دزړه له جوشه ربه نه مي کړه نوشه ربه
هغه پیاله چه عاشقان تل بري سکور لري زلفی څلور لري

✡ ✡ ✡

(۳) سپین مي بشر سپین مي دندان سینه مرمر لرم ګل صنوبر لرم
کله کښینم کله پاڅم کله ګذر لرم په یار نظر لرم
ور که مي ته کړي دانه (٤) ربه په دي ژوندانه چه ګرځم تل دیوانه
د مینې تل معشوقه یار ته پلو خور لري زلفي څلور لري

✡ ✡ ✡

ګرځی ښارو په نندارو دیاری شان لري زړګی پریشان لري
زنه دي قند سترګی لعلونه بدخشان لري دګل په شان لري
کوی سودا رنګا رنګ څوك چه عاشق وی پتنګ زړه یه وینو وی رنګ
د محبوب سینه ګلو نه د لاهور لري زلفی څلور لري

✡ ✡ ✡

---

(۱) له سوراغ نه به مطلب سوراخ وی .
(۲) ایراغ ـ ایراق یا ګاڼه او پسول .
(۳) دمعشوقې له خولې وایی یعنی شاعر له التفات نه کار اخیستی دی .
(٤) له دانې ورکیدو نه مطلب روزی پای ته رسیدل دی چه له مړ کېدو څخه کنایه د .

مینې دې و سوم ستا د مینې یم پرهار پرهار ګرځم بیمار په وار
حاصل مې دادی چه کوی شیرین ګفتار رفتار مړی به کړی بیدار
خدا به په روی د حبیب کړې شفاعت مې نصیب زه درمحمدیم غریب
لاس په دعا کړئی طالبا نو ګناه زور لری زلفی څلور لرې

د رباعی مثالونه

په اور بل دی ګل پېپلی ول په ول
د عاشقو زړو نه وړی تل په منګل

پوست وګوشت مې یوله بل سره جدا شی
ته چه و کړې د سر کو شونډو خندل

چا چه کار د عاشقی نه وی لیدلی
خود به ګرځی بی پروا او بی عمل

خدای دې هېڅوک دیار غمه بې غم نه کړی
د یار غم خو پا چاهی ده د کابل

د ر محمد ته د یار بد شیرین ترقند ،
چی (۱) خوړلی د اجل غشې په دل

✲ ✲

نن دې اور کړ په ماپوری (په ګوګل کښې) په شتاب (۲)
تا چه را کړ په شیرینه خو له جواب

د تېز اب او به مې تو یې په سینه شوې
چه مې و لیدل خالونه د محراب (۳)

---

(۱) چې د (چه یی) مخفف چه اوس یی دود (چې یې) دی .
(۲) (په ګوګل کښې) زاید راغلی .
(۳) دورو محو مستعار منه ، محراب راوړل ښه وجه جامع لری .

تور پلکی دی په جبین هسی رنګ خوند کړی
لکه شرح د بیاض وی په کتاب
نری وروځی نری شونډې نری قده
رنګار رنګ ګلونه ګورم دوهاب
درمحمده همیشه دیار په غم یې
نه پوهیږم چه ثواب دی که عذاب
ته چه دواړه ستر ګی توری په کجل کی (۱)
ننه زړه مې را نه یوسی په منګل کې
که هر څوسوری وهم درب له پاره (۲)
هیڅ تاثیر یې کړی نه دی پردی خپل کی
څه افسوس دی چه قدرت نه لرم ربه
دعاشقو طالع لاړې په زحل کښې
ورځ هغه ده چه جانان (۳) رانه جداشو
(٤) ډېرې مینی بی لاس کیښود په اوربل کی
که تمام عالم خوشحال وی درمحمده !
ستا په برخه غمګینی ده په ازل کی

یادونه : د ملادرمحمد داسی نورڅو اشعار هم لاس ته راغلی دی، خو دلته په همدې څو نمونو اکتفا وشوه .

---

(۱) ددې مصرعې درديف کلمه له نورو ردیفو په خلاف ظرفی کلمه نه ده بلکه دفعل په توګه راوړل شوی ده .

(۲) په اصل کښې دامصرع داسی ده .
که هرڅو سوری واهم دی درب دپاره .

(۳) دا مصرع هم دمحاکیو په لهجه لیکل شوی وه . یا دې ډول :
ورځ هغه ده چه جنان ره نه جدا شو .

(٤) یعنی له ډېرې مینی نه یې په اوربل کښې لاس کښیښود .

محمد شاه ارشاد

قوی مینه

زړه چه مین شی تمکېد لی نشی — مخه د زړه څوک ګر ځو لی نشی

جلوه د یار د مح اثر لری بل — هر بو الهوس پرې پو هېد لی نشی

مینه جلا بو الهه سی بله ده — بو الهوسی ته عشق ویلی نشی

مینه هغه ده چه تر مرګه پورې — په یوه شان وی کمېد لی نشی

د عشق ډیوه چه شی په زړه کښې بله — د خولې په باد و مړه کید لې نشی

ګرمی د عشق چه شی په بر خه دچا — تر مرګه پوری سړ ید لی نشی

عمر تیر یږی هم زړ یږی سړی — (خو) مینه د یار له زړه و تلی نشی

که خوله کنډاسه ملا شی کړو په شانته — مزه د مینې هیر ید لی نشی

زړ ګیه! مست د عشق په میو او سه — په مینه مست زړه څوک وژ لی نشی

سلام سلام په مینه مستو زړونو!

خلاص له ریا له نوروو شتو زړونو!

له لیننگراد نه را لیږلی شعر

دوست شینواری

د شونډو یاد

نن دې د شونډو په یاد جام اخلم
له شو مه بخته انتقام اخلم

له ستر ګو مه څې! سپیلنی دې شمه!
له نو ی طنز ه دې ارام اخلم

اړ پښه نیو لی شه په شا وګوره
چه لکه ګرد ګام دې په ګام اخلم

خیر که زاره د رقیب و چو ی اشنا!
په د وا ړه لاسه د ی سلام اخلم

ستا په سلامي مینه مړاوې نشوه
وخته! له ستر ګو بې الهام اخلم

پښتني مینې په یو ر پ کښې نشته
د وفا نوم په ډیر نا کام اخلم

د لبسر ینو د پېغو ر په ځو اب
د نکی نوم په احترام اخلم

لیننگر اد ـ د عقرب (٤٢)

جنت ګل «نثاری» ستانیزی

دمینې سامان

روغه ده، رنګینه ده، ښکلایې خزان نه لری

هر څه لری ګرانه خو یوز ړه مهربان نه لری

تل یې هر کلی داشارو په خوشحالۍ کوم

بدې یې ګلی دی اشارې یې تاوان نه لری

خیال د مستوستر ګو، بې خطر پکښی لمبیږې تل

زما د اوښکو سین کې، څپې نشته طوفان نه لری

یار چه د مین سره وی ټول وطن ګلونه وی

بار چه ځنې لاړشی، ښ یې چور وی ګلان نه لری

ښه دی چه غمجن یم، خوزمن یمه درد من یم

ورک کړه هغه زړه چه حساس نه وی ارمان نه لری

نه دې کوی ژوند چه په ژوندون کښې هدف نه لری

نه دې کوی مینه چه د مینې سامان نه لری

مه تخنوه زړه مې، اې نسیمه د رنه ځار شمه!!

دا هغه غوټۍ ده، چه خندا ته میلان نه لری

ښکلې! ته خوزړه لرې، هوس کوه! عشرت کوه!

یو د «انثاری» غریب زړه نه لری ځان نه لری

واسعی

د پښتو ادبی او شعری قاموس

(۱۱)

میښ میښ: دالغت دپښتوټولنې مطبوعه قاموس ضبط کړی اودناروغی اودزړه دربی په معنی یې راوړی دی. اودظفراللغات څښتن اودراحت زاخیلی فرهنګ نه دی نیولی مګر بلیو پخپله ډکشنری کښې رااحستی او په دعولا ندې معانی ؤ یې راوړی دی:

Sick at stomach, Nauseated; disappointed. chagrined

چه پښتوترجمه یې دنس یوه ناروغی، خواګرزبدل، حواګرزن، نتلی، ځبلی، ځځیرلی، مأیوس، هیله ختلی، اودحسرت څخه ډك په معنی راځی.

دالغت بوبه ادبی او قحه شعری کلمه ده په خبرو کښې نه اروید له کېږی اوپه محاوره کښې دخولې څخه لویدلې دی.

دې لغت ته نزدې اوتقریباً ورته په لږشانته تغیر د(میږی میږی) کلمه ده دا کلمه لکه لفظاً چه میښ میښ ته ورنزدې اوتکرارهم پکښې موجود دی دغسې معنوی تناسب اوتشابه هم ورسره لری یعنی لکه: شاعر به شاعرانه احساس چه دزړه یوه ناوړه حالت او یوه مخصوص تکلیف څخه په میښ میښ تعبیر کیږی دغسې دبدن اوظاهری جسم د یوه مخصوص حالت او تکلیف څخه هم په میږی میږی تعبیر کیږی (میږی میږی) ددواړو (ږ)ګانو په کسره: کندهار محاوره ده اودا کلمه هغه وخت وبل کیږی چه دیو چادبدن پوست د، که او خارښت په سبب غونډری غونډدی سی اوراو کولیږی

دا کیفیت د کندهار په اصطلاح د (ل-ړ) په خفیفه فتحه (زور کی) او د (م) په کسره (لړمی) بولی او یو څوك د اخبار په توګه وایی: «بدن مې لړمی لړمی سو» یا «دده بدن ټوله لړمی لړمی دی» هغه لفظی تکرار چه په میښ میښ او میږی میږی کښې موجود دی په دې کلمه کښې هم معمول دی او اکثر په تکراری توګه راځی.

دلته یوه بله خبره زموږ مخې ته دریږی چه باید وڅیړله سی هغه دا ده چه په ددې درو تکراری کلماتو (میښ میښ، میږی میږی، لړمی لړمی) کښې د مخنی دوې تکراری کلمې دیوه اصل او یوې ونی دوې څانګې دی داونه د (میږی) لغت دی چه په یوه حالت کښې فقط تکرار سوې (میږی میږی) ویل کیږی او مقصد ځنې د بدن غونډری دی او د بل حالت دا فادې دپاره چه قلبی او معنوی غونډاری دی د (میږی میږی) د دریم توری د تبدیل او د څلورم توری د ترخیم په بڼه (میښ میښ) ځنې جوړ سوی او د جلا معنی دپاره مستعمل سوی دی.

ودې سی چه زموږ ښاغلو لوستونکو ته به په یوه واحده کلمه کښې د تبدیل او ترخیم غیر ګه عملیه د واقعیته څخه لیری و بریښی او دا به ژ ونه منی چه به یوه کلمه کښې تبدیل او ترخیم دواړه په یوه پلا څنګه راتلای سی؟ د دغه مقصد د اثبات دپاره به موږ د پښتو یوه کلمه د شاهد په توګه راوړو دا کلمه عبارت د (خدښکه) څخه ده دا کلمه د کندهار له پښتنو څخه ډیره ارویدله کیږی او زما په تتبع د هغو مخصوصه محاوره ده او د نورو پښتنو څخه مانه ده ارویدلی مګر زمانه ارویدل د دې دلیل نه دی چه دا کلمه دې بل چیرې نه وی خو غالب ګمان دادی چه نه به وی ځکه چه په دغه بڼه په هیڅ قاموس کښې نه ده راغلی او دا تلفظ هیڅ یوه هم نه دی ضبط کړی نو معلوم چه په نورو پښتنو کښې دا لهجه نه ده رواج او که رواج وای نو به په متفرقو قوامیسو کښې یوه قاموس لاراوړی وای.

دا کلمه په تلفظ او وزن کښې د (مرسته) پروزن ده او بشپړه بڼه یې (خدای ږو که) ده یعنی (په خدای قسم که) د (که) موصول او متعلق حذف دی او مکمل کلام به داسې وی چه (په خدایږو که ئی ووینې) یا (په خدای ږو که می لیدلی دی) یا نور دغسې افعال چه ترصله وروسته راغلی وی نو دلته تر ټولو لمړی (په) چه د قسم حرف بلل کیږی حذف سوی دی او وروسته د (خدای) د کلمې څخه چه په پښتو کښې د اسم ذات (الله) پر ځای راځی دوه توری (ا،ی) غور ځیدلی دی وروسته د (ږو) کلمه چه د پښتو په شعری او ادبی نړۍ پورې مخصوصه ده او په محاوره او بنا کښې کورټ نه اروبدله کیږې دا دوه توریزه (ثنایی) کلمه یوه پلاتر خیم شوه (و) ځنی ولاړ پر یوه توری (ږ) پاته سوه او دوهمه پلا ابدال او تغییر پکښې راغی (ږ) په (ښ) پکښې واوښته وروسته د صلې (ك) پسې راغی (خدښکه) د (خدای ږو که) د درو کلمانو څخه مرخم او مخفف شکل ځنې جوړ سو په پښتو کښې دغه نوعه مخفف کلمات رواج دی او مثالونه یې که څوك پسې وګرزی لږ نه دی. یوله دغی جملې څخه (څښکه) دی چه د څه شکل مرخمه ډه او د څه ډول څه رنګ په معنی ده. دغسې (نېخه) دنه یم خبر او (څخه) د څه خبر یم مخفف د کندهار څخه تر غزنی پورې د پښتنو خبره محاوره او عامه لهجه ده.

دا خبره هم دلته د څېړنې وړ ده او شنل غواړی چه (ږ) په کم اساس په خدایږو کښې په (ښ) واوښته او (خدښکه) ځنې جوړ سو. دا اوښتل او تغیر په پښتو کښې مروج دی او ډېر مثالونه په محاوره او وبنا کښې لری مثلاً د (اغږل) د مصدر (ږ) ډېر پښتانه د سهولت او خفت د جهته په (ښ) اړوی بلکه ددې د پاره چه دا کلمه نوره هم سهله او خفیفه سی د سهولت د پاره (غ) لا هم په (خ) اړوی (اخښل) بې وای چه دواړه یو دبل پر ځای د فارسی (خمیر کردن) په معنی راځی دا اوښتون او تبدیل یوازې

به محاوره او خبرو کښې نه دی جاري بلکه په شعر او ادب کښې هم ډېر مثالو نه لري چه يو مثال يې د ماشوخيل مهمند په کلام کښې دا بيت دی :

چه سيلاب زماد اوښکو پرې سيده کړ ديار مينی

نورمی ژر دزړه د سرايه د سکون کاروان وليښ

خبره دلته په (ليښ) کښې ده او مثال او شاهد دغه کلمه ده د لته د (ليږد) څخه چه فعل حال دی په «ليښ» تعبير شوی دی. يعنی «ږ» په «ښ» اوښتی ده مګر سربيره پر تبديل حذف او ترخيم هم پکښې راغلی دی د کلمې ور وستی حرف چه «د» دی غورځول شوی دی او «ليښد» نه دی ويلی شوی .

تر دې ځايه خو د اصلي کلمې «ميښ ميښ» پر بڼه او بعضو هغو تغيراتو وږغيدو چه پکښې ممکن يا متصور وه اوس به ولاړ سو د کلمې د استعمال موردته او هغه ځای به وښيو چه دا کلمه پکښې راغلی ده دا لغت عبدالحميد مهمند پخپل کلام کښې به لا ندې بيت کښې راوړی دی :

چه ادنی حسن دده له خو به ويښ شی

د کشمير دښکليو زړه پسی ميښ ميښ شی

که څه هم زموږ ددې پر له پسې وينا مقصد چه نزدې ديوه کال را هيسته مو په کابل مجله کښې را شروع کړی ده د پښتو پر شعري او ادبي لغاتو بحث او د قاموس له نقطه نظره څيړنه وه او په فرهنګي کتنه مو ورته کتلی دی مګر کله کله که د کم شعر ترجمه هغه چه موږ لغت ځنې را اخيستی وی کاړی واړی او مشکله په نظر راغلی وی هم زموږ د نظره څخه نه ده لويدلې او تر هغو پکښې ږغيدلی يو څو مو د شعر ترجمه روانه او دلوستونکی ذهن ته ور نزدې کړی ده بلکه ځينی اوقات مو پر ترجمه او تحت اللفظ سربيره په بيت کښې

ادبی وجوهات که به موجود وه هم دلوستو نکی مخی ته ایښی دی نو او س
ددمخنی بیت په ترجمه کښې هم غواړو دخپلی پخوانی رشې سره سم وږ غیږ و
او پټ ؤ تیاره نقاط یې که پکښې وی لڅ کړ و او ویې ښیو :

په دې بیت کښې دخبرو وړ موضوع دخوبه څخه د حسن راویښیدل دی دا
تعبیر چه په شعری نړی کښې نوی شی او دما شو خیل په کلام پو ر ی منحصر
دی دلطف او خوند ؤ نزاکته څخه ډك تعبیر دی حسن دخوبه څخه ر او یښیدل
کټ مټ هغه با کیفه او خوندور جهان ویوه مین ته مجسموی چه پخپله دمعشوق او
محبوب دخوبه څخه راویښیدل ئې دمین او عاشق په نظر کښې لر ی

خو دڅیړلو وړ خبره داده چه حسن څنګه بیدیږی یا بیدیدا ی سی او یا
څنګه راویښیږی ؟ او دا افاده او تعبیر په محاوره او و نا کښې ارویدل کیږی
که نه ؟

ویښه ؤ خوب دپښتو ژبې په ادب کښې دوه خورا مهم پرابلمونه او په ز ړه
پورې او دلچسپ موضوعات دی چه په ډېرو تعبیرونو او په زباتو افاد اتو کښې
کار ځینې اخیستل سوی او پورته و کښته کیږی . مثلاً په محاوره کښې پښتانه
وایې : «پلانی ته یاد پلانی خبروته خوب یو وړم دپلانی اوضاعو ته سړ ی خوب
وړی» او داسې نور مثالونه یعنی هغه موارد چه دخوب کلمه دیوې خاصې معنی
او یوه مخصوص تعبیر پر ځای راوړه سوی وی نو په دغو څو مثالو یانورو کښې
دمتکلم مقصد دخوب اخستلو یاخوب وړلو څخه غرض حیرت او تعجب او دهغه
شی یا کار فوق العا د ګی وی . او لکه په دغو جملا تو کښې چه خوب د یوه
خاص تعبیر دافادې دپاره راوړه سوی ؤ دغسی دماشو خیل په بیت کښې هم دیوه
خاص غرض او مخصوص تعبیر دافادې دپاره راوړه سوی دی هغه خاص غرض
عبارت دتشبیه دصنعت څخه دی چه دی غواړی دممدوح حسن ته لکه پخپله ممدوح

چه خوب لری او بیدیږی او بیا دخوب په وخت کښې ځارته کیف لری خوب ثابت کاندی او داسې یې د بیدیدلو قابل وګڼی لکه انسان چه بیدیږی یا لکه معشوق چه بیدیږی او بیا راویښیږی او چه دخوبه څخه ر او یښ شی هغه حالت ئې یو مخصوص خوند او لذت دمین په سترګو کښې لری دعسې دمعشوق حسن هم خوب لری او بیا ئې را ویښیده هم هغسې کیف لری .

دحسن خوب او دحسن راویښیدل او ددې څخه تعبیر کول د پښتو په ا د ب کښې یوازې دماشو خیل شاهکار او ددې نازك خیاله پښتون شاعر ابتکا ر دی او دنورو پښتنو شعر اؤ تراوسه دې تعبیر ته نه دی پام سوی مګر ځکه چه ددې رنګین فکره شاعر هر تعبیر پرپښتنی رائجه محاوره متکی دی دلته هم دده د ا تعبیر او تشبیه له محا ورې څخه نه دی وتلی او دعامو پښتنو په وینا کښې شواهد لری او پرژبنیو اصولو ئې اتکأ موندلی ده مثلاً په محاوره کښې پښتنې میرمنې دښکلا په ستاینه کښې ډېر ځله وایی «دپلانی بیده حسن دی» بیده حسن هغه ښایست ته ویل کیږی چه دښځی ټوله کړه وړه (پزه ، خوله ، شونډان، سترګې ورځی، باڼوګان، دمخ پوست، دمخ ټکی، وریښتان) او نور شرایط واړه تناسب سره واری او په منتها موزونیت موزون واقع سوی او هر لیدونکی ئې اغیزه او تأثیر دیو ه سهمنا که غوندې خوند او لذت سره احساس کړی ، نو چه دبیده حسن وجو د په محاوره کښې ثابت سو طبعاً یې راویښیدل هم ضروری دی ا و کم شی چه خوب لری ویښه هم ور له په کارده نو عبدالحمید په دغه محـاوره او دغه ا تکأ هغه حسن راویښ کړی او د کشمیر دښکلو زړه ورته میښ میښ سوی دی . یوه بله محاوره هم په پښتنو میرمنو کښې سته هغه داده چه هغه ښځې چه اولاد یی پرتی وی او شید ی روی کم وخت چه تی ئې ډېر ډك شی او شیدې یې له تیو څخه په خپل سرراتو ئیږی نو پښتنه مور په دغه وخت کښې وایی «شیدې مې ر اویښې سوې » نوشیدې خوبیدې نه دی مګر دغه فوران او جوش ته راو یښیده و ا یی ا و پښتو

محاورې دغه حالت په دغه تعبیر افاده کړی دی نو دبیده حسن راو یښیده هم عیارت دیوه دغسې غلبې او جوش ؤ فوران څخه دی او په دغه توګه تعبیر ځنې وسو .

بیدې سترګې دپښتو په ادبی نړۍ او شعری دنیا کښې مشهوره اصطلاح ده بلکه په نثر او عمومی وینا ؤ کښې هم ول کیږې «دپلانی بیدې سترګې دی» او په شعر کښې عبدالرحمان مهمند دپښتو متصوف شاعر په څو پلا سترګې په خوب ستایی او یوه پلاوایی :

ستا دا خواب آلو دوسترګو خواب را څخه یووی
لبو دې لذت د میو ناب را څخه یووی

له دې قسمه اشعار په پښتو ادب کښې خورا ډیر دی چه موږ دتکرار او اوږدوالی له جهته څخه نور مثالونه نه راوړو او پر دغه یوه بیت کفایت کوو .

لالنه : لکه (پالنه) او پر همدغه وزن دی . دا لغت سو چه ادبی او شعری لغت دی او په دې لړ کښې دونه اصیل او نجیب دی چه زما په خیال هیڅ وخت به دکم پښتانه څخه بې له شعر او تحریر څخه په وینا یا محاوره کې نه وی اروېدلی سوی ، په قوامیسو کښې د پښتو ټولنې (پښتو قاموس) نه دی نیولی او ظفر اللغات لالن دمعشوق او محبوب په معنی او ورپسې یې لالنه راوړی ده او په مینه ومحبت یې ترجمه کړې ده بیا یې له دغې مادې څخه مشتق لالی اسم صفت راوړی دی او په تفسیر کښې ئې ورته لیکلی دی (ماشوم ته دمینې لوز) سید راحت زاخیل هم پخپل قاموس کښې نه دی نیولی ، مګر بلیوانګلیس پخپله ډکشنری کښې لالن ته د Sweetheart ,A lover کلمات لیکلی دی چه دمحبوب او مین دخو ازه او شیرین په معنی دی وروسته ئې لالی راوړی دی او په ترجمه کښې یې Dear او beloved او darling ورته کښلی دی چه دعزیز ګران او ګرانښت په معنی دی . خو دا کلمه (لالنه) چه زموږ دڅیړنی موضوع ده اصلاً د (لالا) له

ربښي څخه را اخيستل سوی ده او په هغو معنی ګانو مستعمله سوی ده چه موږ دقاموسونو له خولی څخه دهغو بيان و کړ اوس بايد دې خبرې ته را سو چه د (لالا) کلمه پښتو ژبی ته د کمه راغلی ده مګر داخبره به اوس پر د غه ځای پريږدو او پخپله په پښتو ادبی او شعری قاموس کښی به پر خپل وخت او موقع مفصل پرو ژغيږو او پوره به ئی وخيړو که خدای کو ل .

کايل : دالغت هم سوچه ادبی او ناکه شعری لغت دی په محاوره کښې نه اوريدل کيږی او په وينا کښې دچاد خولې څخه نه راوزی په قاموسو کښې يوه قاموس لکه د پښتو ټولنې مطبوعه قواميسو او نورو لکه ذاخيلې يا ظفر اللغات او انګليسی قواميسو لکه بلو يا بل يوه نه دی راوړی او دا ددې کلك د ليل دی چه د الغت و چ شعری او يوازې ادبی کلمه ده .

په شعر او ادب کښې هم دا کلمه لومړی پلاماد ما شو خيل د کلا م په دې بيت کښې ليدلې ده چه وائی :

تل د ده د مستو ستر ګو له کايله په عوض دو ينو مې ځی زماله داله

دو همه پلا دا کلمه د بابوجان (١) لغمانی په کلام کښې ماته په مخه راځی ، دی د يوې غزلې په ترڅ کښې وايی او دا کلمه داسې پکښې راوړی :

د قدم د اخيستو طا قت مې نشته دبيلتون تيرمې کايل کړه اندامونه

اوس به راسو دلغت ترجمې ته چه په پورته د وو بيتو کښې (کا يل) په څه معنی راځې نو ځکه وايو چه کايل دلته د پرهار ، ټپ ، او زخم په معنی دی او دواړه بيتونه په هغه صورت کښې جوړيدای سی او ښه خوند هم کوی چه دالغت په دغو پورته مفاهيمو ترجمه او تفسير سی .

د ماشوخيل په بيت کښې دا لغت ډېر خوند ور راغلی او خورا خوږ او دلچسپ

(١) بابوجان په يو ولسمه هجری پيړۍ کښې ژوند کاوه او احتمالا تر ١٠٦٨ هـ ق پورې ژوندی و (پښتانه شعراء)

اداسوی دی داسې چه دی وائی ستاد مستو شرابی او خمار ی ستر ګو د زخم او پرهار څخه چه زما پرزړه ئې وار کړی او ټپی سوی دی دو ینو پر ځای شراب بهیزی د استاد ستر ګو اغیزه او تأ ثیردی چه د نورو پرهارو بالعکس ددې پرهار څخه شراب څڅیزی نه وینی ولی زما زړه د تو ر ی باتیغ په ا ثر نه د ی ټپی سوی بلکه هغو ستر ګو زخمی کړی دی چه هغه مستی او خماری غوندې دی او خماری توب او مستی خود شرابو خاصه ده نو کم ز خم چه د غسی ستر ګې ئې جوړ کی د هغه زخمه څخه باید دوینو پر ځای شراب وبهیزی دبابو جان په بیت کښې هم لغت پـه د غـه مـعنـی را غـلی د ی خـو د و نـه خـو نـد ور او پـه زړه پورې نه دی افاده سوی .

په دې موقع کښې ماته د ماشوخیل تر کلامه پورې د میرزا بیدل دا بیت راپه زړه سو چه وای :

به کیش آن چشم فتنه مایل به فتوای آن نگاه قاتل

بحل گرفتند خون بیدل چومی به دین فرنگ خور دن

که څه هم میرزا بیدل عینی مضمون راوړی او د معشوق په کتنه ئې ځان ټپی نه بلکه وژلی دی ، مګر هغه ابتکاری تعبیر چه د ماشوخیل پرخوله ورغلی دی د هغه خولی ته نه دی ورغلی یعنی بیدل د خپل محبوب ستر ګو ته په هغه نظر نه دی کتلی چه عبدالحمید ورته کتلی دی او د ستر ګو د کړمه څخه ئې د وینو پر ځای د میو د رابهیدلو دعوه نه ده کړی .

هو ! ((الم نشرح هغه الم نشرح ده خوخوله دملا عثمان غواړی .)) (نوربیا)

لیگونگی : عبدالرؤف قتیل خوږ یـاڼی

«اول ز ده کړه بیا کوژده کړه »

په څلورو پردو کښې یوه انتباهی ډرامه :

اولـه پـرده

ځای : ټولګی +

خلـك

رحیم :دصنف اول لمبر .

عندل :یو تنبل شاګرد .

معلم او نور هلکان

دیګور : ټولګی او دټولګی لوزام .

خبرې

(دپردې دپورته کیدلوسره‌سم ټولګی لیدل کیږی چه هلکان په‌کښې ناست دی. څوك درس وایی او څوك په نورولوبو مشغول دی . غندل‌سرپه میزایښی دی ، په دې کښې رحیم چه‌دصنف‌اول لمبر دی راننوځی او دټولوهلکانو سره‌په‌لاس‌ورکولو ستړی مه‌شی کوی بیاوایی):

رحیم: ملګرونن خولږ څه‌خوشاله ښکاری‌ءلکه چه درس ته موښه فکر برابروی او دمعلم صاحب پرونیو خبرو درباندې ښه تاثیر کړی وی .

غندل : رحیمه تاثیر که تاپیاز .

(هلکان خاندی)

رحیم : هلکه غندله ته به ملنډې نه کوې زمونږ ژوند دملنډو دپاره نه دی داچه مونږ اوتاسې دسهار لهمخه لږ پهوخت راځونو مطلب مودانه دی چـه په ټوکـو ټکالوسرهئې تیر کړو دلته مطلب دادی چه په پرونی درس کښی مذاکره وکړو او که په کوم شی پوه شوی نهیو چه په ګډهئې سره حل کړو .

غندل : هلکه رحیمه دخدای روی ومنه چه ماغزهمې مه خرابوه ته اوس مونږته پلار جوړ شوې پلار ،ټوله ورځ تهئې اوچتیات .لږ ساعت موپهکرار پریږده .

رحیم : غندله وروره ته په قاریږهمه !

زه دانـه وایم چـه زه لهتانه لوړیم خوخبره دلته ده چـه مونږ اوتـاسې واړه نه یودنهم ټولګی شاګردان یو پهژوندانه کښې ډیر مسئولیتونه راپه غاړه دی،دقوم او اولس ځـوانان همدا مونږ او تاسې یو اوسترګې مونږ ته را اوړی ، ځکه چه دملتونو ښه اوغوره پانګه همدا ځوانان دی . نو ځوانان باید د اوسنی ژوندلـه غوښتنو سره اشناشی او دنوی تحول دغوښتنو سره سم دقومی او اولسی ژوندون دبهبود دپاره کار وکړی اوله پښو لویدلی ټولنه په پښو ودروی که مونږ اوتاسې له دې نه بې پروا کیږو نوپه دې باور ولرئ چههمداسې بهپاتې یواویوقدمبهداوسنی نړۍ دتمدن په کاروان پسې وړاندې وانه خلو .

خـدای هم نه بدلوی حال د هغه قام چه څوك نه بدلوی خپل حالت په خپله

نومونږ بایدخپلموجوده حالت پهخپلهبدل کړواودژوند دپاره ځانونه تیارکړوپهاوسنی پیړۍ کښې هغه څوك دښه ژوند کولو حق لری چه پوه وی .

غندل: یره رحیمه ته زورور سـړی ئی تاسره زمونـږ پـلار هم نه رسـیږی ، ستا ډېرې یادې دی ډېرې یومې بیګاه خوبنهدی کړی ،ټولهشپهدبرکلیپهواده کښې

دلښتیو سیل ته ناست وم سرمې له درده ټکار کوی ،اوس تاراته کیسی راواخیستی زوروره ! دهرشی وخت معلوم وی لکه ماته ژونده کړیږې .

(په دې کښې معلم رانتوځی رحیم ولاړسیء وائی)

معلم :ـ کښېنئ ملګرو ! انشاءالله چه نن به خوشاله وئ کنه ، کوم یو خودر کښې ناروغه نه دی .

رحیم : نه صاحب ستاسې صحت غواړو .

معلم : هو ! ملګروصحت خود هرشی نه ضرور دی خودجسمی صحت سره فکری صحت هم په کاردی ځکه که فکری صحت موجود نه وی نوکارونه سمون نه شی پیداکولای.

غندل: یره معلم صاحب زه خوپه دې خبرونه پوهیزم اونه می سروربانديې خلاسیزی خوخبره دلته ده چه ښه دې ووې.

معلم: غندل خانه عجب سړی مې ته ولیدې چه زما په خبرودې سر خلاس نه شو نو څه پوه شوې چه ښه مې ووی .

غندل: معلم صاحب په عجب اورجب پسې مه ګرځه خدای پاك مونږته عقل راکړی دی ښه اوبد خو پیژنو .

رحیم: غندله ستا په عقل کښې خو هیچ شك نشته خوداراته ووایه چه ښه اوبد څنګه پیژنې .

غندل : داوګوره !ښه اوبد څنګه نه پیژنم .

رحیم : ښه نو ته خوووایه کنه چه مونږ هم پوه شو .

غندل : ته ئې اوس په چل، چل کښې زمانه زده کوې ،دغه دی چلی ، په

خدای که ئی درته ووایم .

معلم : نه غندل خانه داخو ، بده خبره نه‌ده‌چه له تانه یې زده کړی. تاسې باید ددوه ورونو په شان ګوزاره وکړیء که یو په یوشی پوهیږی بل په بل څه داخو بد کار نه دی چه یو بل سره پوه کړئ .

غندل : ښه ده معلم صاحب چه راباندې وایې‌ئې نو دغه دی وایم ئې ، غوږ کیده رحیمه دواړه غوږونه راته څك کړه ، اې ، اې دغه دی ومې وې ، غوږ کیده .

رحیم : ته خووایه کنه خبره دې معلومه نه ده اولګیائې .

غندل : دغه دی ومې وې ، خبره داده چه زه ښه‌اوبد په‌دې پیژنم چه « ښه ، ښه وی اوبد ، بد ، » اوس ورباندې پوه شوې .

« ټول هلکان په زوره خاندی »

معلم : هو ! بالکل شابسی غندله ښه دې ووې ، خو اوس که ستا خوښه وی نو اول به دپرونی درس پوښتنه وکړم اوبیا به په نوی سبق پیل کوو .

غندل : وی ، وی ، معلم صاحب مړ شوم ،

معلم : ولې غندله ؟

غندل : وی ، معلم صاحب مړشوم ، په سرمې ډیر سخت درد شو .

رحیم : معلم صاحب دی ټکی کوی د دې دپاره چه پوښتنه ورنه کړې ځان ئې ناجوړه کړ که نه روغ او جوړ دی .

معلم : ښه ده‌چه‌دی ناروغه دی نوله ده‌به پوښتنه نه کوم .

رحیم. معلم صاحب‌داهم ښه خبره‌ده خوزه یوه پوښتنه لرم که په هغی‌کښې سره مشغول شو بده به نه وی .

معلم : ښه ! ډیره ښه ده څنګه پوښتنه .

رحیم. معلم صاحب هغه بله شپه مې‌درادیونه واوریدل چه دادبیاتو په پوهنځی کښی لومړنی علمی مناظره وشوه چه عنوان ئې ؤ «نوی تحول اوپه‌هغه‌کښی دځلمیانو برخه» .

غندل : کښینه هلکه رحیمه‌اوس موپه غم‌ککړوې په سیاست‌کښی مه‌غزیږه وړه خوله لوئې خبرې غریب سړی ئې دخپلې غریبی غم کوه ته څوك او داپوښتنه .

معلم . نه غندله اول خوداخبری ډیرې زړې خبرې دی چه په دې کښې مه غږیږه په هغه کښې مه غږیږه دا دژوند خبری دی او باید هرڅوك پکښې وغږیږی درحیم پوښتنه ډیره ښه پوښتنه ده او زمونږ ددرس له موضوع نه لرې نه ده .

ښه ملګرو درحیم پوښتنه داوه چه : « نوی تحول او په هغه کښې د ځلمیانو برخه . »

تاسې خو په دې پوهیږئ چه هره پیړی او زمانه په خپله لمنه کښې یو څه تحول لری دروانې پیړی په ترڅ کښې چه کوم تحول زمونږ دمنور ټولواك د نیکو لار ښو ونو په اساس منځ ته راغلی دی هغه د ځوان او رو ښان

فکر محصول دی چه زمونږ په برخه شوی دی .

ددې تحولاتو دغوښتنو سره سم ځوانان باید خپلو راتلونکو مسئولیتونوته متوجه شی او دقوم او اولس دانتظار سره سم په‌داسې‌کارونو بوخت شی چه ددوی دردونه دواکړی ، مادی اومعنوی نیمګړتیاوی ئې له منځه لاړی شی او داحتیاج لاسونه مونوروته اوږده نه شی .

ژوند زمونږ په اوږو باردی اوځان زمونږ په وسیله هدف ته رسول غواړی مونږ باید ژوند ته خدمت وکړو او دژوندمرموز اړخونه راوسپړو .

مونږ وطن ، قوم او اولس ته مسئول یوچه دا ارتقائی سیر په پوره میړانه او زړورتوپ پرمخ بوځو ،په ګډ ژوند اوشریکو مرستو خپله ملی او اجتماعی نیکمرغی منځ ته راولو . . . . .

(**معلم** چه په‌خپله‌ویناکښې‌دلته‌رارسیږی دتفریح زنګ‌وهل‌کیږی‌اووائی‌چه . . .) که څه هم داموضوع ډیره اوږده او ډیره خوندوره ده . مګر تفریح هم په کار ده بیا به بله ورځ په کښې غږیږو .

رحیمه : معلم صاحب مونږ تفریح نه کوو داموضوع خلاصه کړه .

غندل : معلم صاحب دی چټی وایی مونږ تفریح کووبیا به بل وخت ګورو .

معلم : ښه ده راځئ چه ځو.

(دوی وځی اوپرده لویږی)

دوهمه پرده

خلک

اوږی: درحیم مور

ځونډی: درحیم پلار

تور: د ځونډی نوکر

رسول: درحیم ماما

ځای

دځونډی کور

دیکور: دکور لوازم

خبرې

(دپردې دپورته کیدلو سره سم تور لګیادی ځای پاکوی او دځان سره وایی:)

تور: ته ودرې چه داځای ښه پاک کړم دازما باداره همداسی ویناکوی چه هلکه توره مړشې ، ځوانیمرګ شې ځای دې ښه نه دی پاک کړی .

د دې نه لاپاک څنګه وی ، یوه ورځ خوئې جارو را وانه ختله او ځای یې جارو نه کړ ، که نن ئې راته ووې چه ځای دې ښه نه دی جارو کړی نو توکل په رب یا تخت او یا تابوت ورته وایم چه ته ئې راوښیه چه څنګه ئې پاک کړم.

(دی په همدې خبرو کښې دی چه اوږی تروز راننوځی اووائی:ـ)

اوږی: هلکه توره بیاځنګه لکه لیونی دځان سره لګیایې.

تور : هسې بادار جانې ستادسردعامې کوله .

اوږی : دعاو وته تیاریې او ځای پاکولوته دې ملا ته ده .

تور : پاك ځنګه وی‌ددې نه ئې ځنګه پاك کړم .

اوږی : پاك نه ستا سر ،ای سردې خاورې شه ،سر خوړلی شی ،ته ړوندئې نه ګورې چه داخو مره ګردپه دې قالینه پروت دی ، مړی ته جوړئې ! کارته دې ورمیږمات‌دی، سروتیرشې ،غړی دې شل‌شه.ـ

تور : بادارجانې زما دلاسه خوهمدومره کیده که ته وائې چه پاك‌نه‌دی نوبسم‌الله کړه جارو واخله ته‌ئې جاروکړه ، چه زه‌ئې و ګورم او زده‌ئې کړم .

اوږی: زه‌ئې جاروکړم.؟

تور : هوکنه چه زه ئې درنه یاد کړم

اوږی: ښه ده زه به‌ئې جاروکړم، ته‌راکه داجارو.

(تور جاروورکوی اواوږی ترورئې له څوکې نه نیسی اوبیخ‌ئې تورته‌راړوی او په څټ کښې‌ئې وهی اووایی چه:)

دغسې ئې جاروکړه اوس دې زده‌کړ.

تور: هوبادار جانې قربان دې‌شم زده‌مې‌کړه، بالکل به‌ئی همداسې جاروکوم.

«په‌دې کښې څونډی درحیم پلار راننوځی»

تور: ـ باداره په خیر راغلې نن خومې ځای ښه پاك‌کړی‌دی.

څونډی : یره خوتوره دکارسړی ئې زه درنه ډیر خوشحاله یم .

تور : یره باداره زه هم درنه ډیر خوشحاله یم خو داګیډه مې‌درنه ډیره‌خپه ده .

اوږی : کښینه ګیډوته تمامه ورځ دګیډې په‌غم کښې‌ئې ګیډه دې خاورې شه !

تور :بادار جانې زه خودغه‌دی ناست‌یم کنه خوهسې ماوې چه هغه دبلې شپې ښوروامې سړه څښلې په ګیډه مې‌لږ در دشوی دی .

اوږی: وی ځوانیمرګ‌شې هغه تا وڅښله، ته خودمرګ‌ئې،ماځان‌ته‌ساتلې‌وه هغه تاوڅښلـــه.

«بیا جارو ورپسې رااخلی، څونډی ئې لاس نیسی اووایی.».

څونډی : بس که ښځی ته اوس په تشه ښو روا سړی وژنې .

اوږی: نه سړیه دپریښودلو سړی نه‌دی دچرګ ښوروائې څښلې ده دچرګ. ماوې چه زه به‌ئې سباته ځان ته توده کړم هغه ده سر خوړلی ونغرله .

تور :بادارجانې زه‌څه خبروم چه‌ته به وربانديسرغوړوی که‌نه‌مابه‌دابدنه‌کول

څونډی: ښه‌ته‌داخبری‌پریږده .

اوږی : څنګه ئې پریدم دچرګ ښو روایې څښلې ده .

څونډی : نوڅه‌کوې ورسره ،اوس‌کار شوی دی، په‌تیرواوبو پسې یوم‌مه‌کړ نګوه هغه بیګانی خبره کوه بیګادې څه وې .

اوږی : هو، ښه دې و وې سړیه دې سر خوړلی‌مې‌ټولې خبرې‌له‌یاده و ویستلې خبره خوداده سړیه چه درحیم جان‌اوس شکردی شونډه توره شوې ده‌اوځلمی دی،زه هم‌اوس یوازی یم دکور کاروته نه شم رسیدلی ، دا غوټی ډیره ښایسته او قابله نجلی ده‌که خوښه دې ،وی همدا به ورته وکړو .

تور: یره بادارجانی‌بیخی دې ښه خبره وکړه زمونږ به‌هم په کښی‌ګیډه چاغه شـــی .

اوږی : هو دخیټې غلامه .

ځونډی : ښځی خبره خودې ډیره ښه‌وکړه خوته دې هغه ورور راوغواړه چه هغه په کښې څه وائی . ددې‌زمانې په خبرو هغه ښه پوهیږی زما اوستا فکر ددې زمانې په خبرونه رسیږی څه چه هغه و وې هماغسې به کو و .

اوږی : ښه دې و وې هغه خوبه ضرور راغواړو اوسلا به ورسره کو و .

« داوائی اومخ تورته راګرځوی چه : ـ»هلکه توره ته لاړشه «رسول‌خان» ته ووایه چه خوردې غوښتی ئې .

تور : ورپسې لاړشم که له همدې ځای نه‌ورته غږ کړم .

اوږی : ددې‌ځای‌نه‌غږ کله ور رسیږی لاړشه ورپسې ورك شې !

تور : لږه یخنی ده ، نو .

اوږی : ته نوکرئې که دچا پلار .

تور : زه بادارجانې‌نوکر ، پلارمې نوکر، نیکه مې نوکر .مونږ خو خدای دنوکری دپاره پیدا کړی یو ، نه دچا پلاریم اونه بادار ، بادارجانې دابادارى دې خدای په تا پیروز ولری مونږ او بادارى سره ډیر لری یو .

«داوایې سوړ اوسیلی کاږی اوپه مخ ئې غټې غټې اوښکې رابهیږی .»

ځونډی : توره بچو خپه‌شوې خپه کیږه مه ته ماته درحیم جان نه‌کم نه ئې بچو تابه زه دنوکر په سترګه نه‌ګورم ټول انسانان په ژوندانه کښې یو شان حق لری خوټول کارونه دیوه سړی نه پوره نه‌وی ، څوك یو کار کوی او څوك بل .

نوکری خو څه بدکار نه‌دی ، نرهغه دی چه په خپلو متوئې وګټی اووئې خوری

غیرتی او همتناکه خلك په نوکری او خدمت هیڅ وخت شرمیږی نه ، انسان ته خدای پاك متې د همدې دپاره ورکړی دی چه کار وکړی او دکار په ذریعه خپل ژوند برابرکړی، ته مانه گورې چه تمامه ورځ کله په برو ځمکو گرځم او کله په لـــرو، کله په ژرنده گړی پسې روان یم او کله په پایکوټ پسی ، په ډیر وگرځیدو مې څپلی و شلېدې ، زه خو یو سړی یم ځان ته په هرترتیب روزی پیدا کولای شم خو ، نه ـ سړی باید د نورو غم وخوری او دنورو ژوند په نظر کښې و نیسی تر ترڅو چه ژوندی یو دالالهندی او سر گردانی به راسره ملگری وی ، نو بچو ! تـه خپه کیږه مه ، څه بچو ته لاړشه او رسول‌خان د ځانه سره را وله .

تـور : ډیـره ښـه ده .

« داوائې اووځی . . . لږ ځنډوروسته بېرته راځی او رسول خان دځانه سره راولی رسول خان را ننوځی . »

رسول : السلام علیکم لا لا خیریت خودی څنگه دې په داتوره شپه را وغوښتم خـیر خـوبـه وی .

اوږی : هو ! وروره خیردی د خوشالی کار دی .

خونډی : ته‌کښینه‌کنه داخور دې غواړی‌چه په‌دې قیمتی‌کښې‌دې خوریی ته‌ښځه وکړی .

تور : یره باداره دادقیمتی خبره خودې رښتیاوکړه ، زه هم د دې قیمتی نـه ډیـر تنـگ یم .

اوږی : هلکه ته مه‌غږیږه توره ، خوله دې ټپه شه چه‌ته دترو ومچ نه ورکیږې

رسول : دا خوبده خبره نه‌ده چه سړی په خپل مخکښې دزوی کـوروداں کړی څوك مو په زړه کښې نیولی ده .

اوږی: وروره زما خو داغوټی خوښه ده ، یره وروره ډېره قابله ده .

رسول: ښه هغه دګل روز خان لور .

اوږی : یره وروره خبرې په کښې مه کوه .

تور : یره بادار جانې زما هم ډېره خوښه ده .

ځونډی : ښه رسول خانه ته په کښې څه وایې .

رسول : لالا زه په کښې څه نه وایم دببو په خبره کښې مې زه هیڅ نه شم‌ویلای خو یره زه وایم چه اوس ئې وخت نه دی.

تور : عجب . وخت‌ئې نه دی ، وخت‌ئې څنګه نه دی چه زوړ شی بیا به ئې ورته کوئ نوی ځلمی دی .

رسول : هلکه توره ته خو غوږ ونیسه زوروره .

اوږی : ته‌ئې پرېده چه څه وایی .

رسول : ببو خبره دلته ده چه رحیم خو تر اوسه لامکتب نه‌دی خلاص‌کړی.

چه تعلیم ئې خلاص کړ بیا خیر سلاده ، خدای به هرڅه آسانه کړی .

ببو هوښیا رانـو ویلی دی چـه :

« اول زده کړه بیا کوژده‌کړه »

اول تعلیم په کاردی بیا واده .

مـونږ په داسې پیړۍ کښې ژوند کوو چه بې له علم او پوهی په کښې ژوند ډیـر

سخت دی پەدی پیړی کښې هغه څوك دژوندحق لری چه پوهوی وخپل خیر اوشر یه خپله ،سجوئی،شی، تاسې خو تعلیم نەدی کړی بەدی خبرونه یوهیږی،

ماته چه معلومه ده نو پوه اومنور ځلمیان چه له تـعلیم نه خـلاس شی نـوبـیا په خپله دځان دپاره ښځې خوښوی ، او ښه هـم داده چه ځلمیان په خپله جوښه ښځې وکړی دزور واده ډېرې بدې نتیجې لری ، داسې نتیجې چه ببو بیا بەتەپەخپله ورته حیرانه وې او افسوس به کوې .

اوږی : نـەوروه په دې کښې مه ښینیږه مـرگ او مردن دی بیا خـدای خـبر چه زه بەژوندی وم کـه مړه ،پەزړه به مې ارمان پاتې شی، داایکـی یوزوی مې دی نوره دخدای هیله ده .

رسول : ببو داخبرې او داکارونه دومره آسان نه دی ، په لوی لاس دخپلزوی ژوندولـی خرابـوې .

تور: عجبې خبرې نەکوې هغه ورته ښځه کوی که ژوندئې خـــرابـــوی.

رسول : نوره به په دې خبرونەپوهیږې ښځو دژوند مسئلەدەښځوپەخوښولو او واده کولوکښې ډېرغورپەکاردی ، زەیقین لرمچەرحیم خانبەدهمدې ښځیپەواسطه په مصیبت ککړ شی ، او له تعلیم نه به پاتې شی ماخپل ډېر همصنفیان لیدلی دی چـه په همدې کارئې ژوند خـراب شوی اودمور او پلار پەبې پروائی پەبده ورځ اخته شوی دی .

اوږی : ستاسې مرتبیانو ډېرې زده دی ډېرې .

رسول : ښەده خورې ما خودر باندې خپله غاړه خلاسه کړه ، بیا به ارمانکوې.

خوزما واوره په دې کار کښې مه ټینګیږه .

اوږی : وروره زه هیڅکله له‌دې کارنه اوښتلې نه شم ، زه خپل زوی ته ښځه کوم دبل چا په کښې کارنشته .

تـور : هو! نشته بیشکه نشته .

خـونړی : ښځې ته‌اوس وارخطاکیږه مـه دومره صبر وکړه چه دانوې غـلې را ووځی نو بیا به ګورو .

اوږی : سړیه زما دخواری ایکی یو زوی دی والله چه همدا اوس ئې ورته ونه کړې که شپه هم در سره تېره کړم ما ټول کار ور سره خلاس کړی دی په همدې شپه به ئې کار خلاسوې .

ځونړی : ښه رسول خانه چه خور دې دومره ټینګه ده مجبور یو څه به وکړو نو اوس خدای راپیښه کړې ده ، مخکښې شه چه دواړه ورشو .

رسول : ښه ده نولالا څه چه ورشوز ماخو ، خوښه نه ده

« دوی پا ځیږی او پرده کش کیږی »

دریمه پرده

خـلـك

١ ـ سرمعلم .
٢ ـ پنځه کسه ښوونکی .
٣ ـ چپړاسی .
٤ ـ یو نفر دحکومت کوتوالی

ځـای

د ښـو ونـځـی ادا ره

دیکور : داداری لوازم (دوسیی ، میزونه ، چوکی ، تیلفون ، دمجلس کتاب)

خبـری

« دپردې دپورته کیدلو سره سم چپړاسی چه بازګل نومیږی دا داری په پاکولو اخته دی چه په دې کښې دتیلفون زنګ راځی بازګل غوږی پورته کوی » .

بـازګـل : ته څـوك ئـې . . . . زه ، زه‌یم . . . هـو زه په خـپلـه . . هـوزه پخپله سر معلم یم .

« په دې کښی سرمعلم راننوځی او وائی »

سرمعلم : ته‌څوك ئې ته چپړاسی‌ئې که سر معم ؟

بازګل : زه درې سر ویسه کار کوم .

سرمعلم : کوم ، کوم

بازګل: یو خوداچه زه په دې‌مکتب‌کې چپړاسی اوبل ددې تیلفون باشـــی یـم ځکه چه زنګونه ډیر راځی اوکوم وخت چه ته نه‌وې ستاپه ځای کار کوم .

سرمعلم: کښینه ورکشه خبرلوځه!ځه‌لاړشه معلمانو صـاحبانو ته ناری کـړه چه دمجلس دپاره راشی .

بازګل: ښه‌صاحب«داوئې اوځی لږځنډ وروسته بیـرته راځی په یـوه کـونـج کښی و دریږی معلمان یو ، یو راځی او دسرمعلم‌سره ستړی مه شی کوی ، سرمعلم چه دمجلس‌کتاب ئې په مخ کښې‌پروت دی ، په خبروشروع‌کوی او خپل‌پشنهادونه ملګروته اوروی او وائی چه : »

سرمعلم : ملګرونن دمجلس ورځ ده ماخو داطلاع کتاب ملازم ته ورکړی ؤ او دمجلس موضـوع مې‌په‌کښی لیکلی وه البتـه موضوع به تاســی تـه ښکاره وی او ورته به پیش بین شوی وئ .

یومعلم: هوصاحب موضوع ډیره‌په زړه پوری ده.

سرمعلم : ملګرو اول به زه خپل پیشنهادونه وړاندې کـوم او ستاسی نظریی غواړم وروسته که تاسې کوم پیشنهاد لرئ هغه به‌وړاندې کـوئ.

بل معلم : ډیره ښه ده .

سرمعلم : ملګر وزه چه داخو ورځې په صنفو کښې ګرځیدلی‌یم په زیاتو ټولګیو کښې دشاګردانو سویه کمزورې ده ددې دپاره چه له یوې خوا دشاګردانو سویـه لوړه شی اوله بلې خوا درس دلچسپ واقع شی څه کول په کاردی . زمامطلب‌دادی

چه د مکتب د بهبود په باره کښې را سره همکاری و کړئ ځکه چه په دې منطقه کښې دایو منځنی ښوونځی دی او ټولوخلکو ورته سترګې نیولی دی ، داسې څه کول په کاردی چه درسونه ښه شی او دخلکو دامید سترګی روښانه شی .

بل معلم : ډیرښه پیشنهاد دی زمونږ ټول کارونه ، مفکورې ، پیشنهاد ونه او نظریی باید ددې قوم دبهبود دپاره وی او زامن ئی داسې وروزل شی ځنګه چه دوی آرزولری ددې کار دپاره زما نظریه داده چه په دې محیط کښې چه له هرحیثه دافکارو تنویر ته اړه لری . . . .

بازګل : هو معلم صاحب ډیر ښه دې و وې په مکتب کښې تنور نشته ډیر په تنګ یم

معلم : چې شه ورک شه دخبرو په منځ کښې مه رالویږه . تنورنه تنویر ، نو سر معلم صاحب دافکارو دتنویر دپاره یوې کتابخانې ته ډیرضرورت حس کیږی چه کتابخانه په مکتب کښې موجوده وی نوشاګردان به په خپله خپل فکرونه په کار واچوی او خپل درسی مشکلات به په خپله حل کولای شی دایوه لاره شوه بله لاره د درس د دلچسپی دپاره داده چه درس له تجرد څخه تشکل ته راو باسو یعنې تدریس په عملی توګه محیطی او حیاتی کړواوله محیطی لوازمو څخه کارواخلو څوچه درس ښه په زړه پورې او دشاګردانو په ذهنو نو کښې ښه کښینی .

سرمعلم : تشکر معلم صاحب ستاسې دواړه نظریی معقولې اوښې دی. خوداچه مونږ به دیوې کتابخانې په جوړولو ځنګه کامیاب شو په دې کښې یوڅه غور کول په کار دی چه دکتابو نو دلاس ته راو ړلو ښې لارې پیداکړو .

دریم معلم : سر معلم صاحب په دې باره کښې زه هم یو عرض کوم .

سر مـعلم : مهربانی وکړیء معلم صاحب .

مـعلم : دلته دوه لارې شته ، یوه داچـه په‌دې باره کښې دمعارف پـه سلسله اقـدام وشی ، البته دالاره به لږ څه اوږده وی بله لاره‌ئې داده چه دا مکتب په خپله دهمدې قوم‌مکتب دی د دې مکتب سره هرراز مرسته په خپله دقام سره مرسته‌ده .

سر مـعلم : مـعقول .

معلم : نوکه هرڅوك چه‌په کور کښې یویادوه کتابونه لری اودمکتب اداري‌ته‌ئې وسپاری دوی به‌وربانـدی پوه نه‌شی اومکـتب بـه‌په لږ وخت کـښې یوه منـظمه اوکامله کتابخانه پیداکړی چه‌دهمدې قوم فرزندان به ورنه استفاده کوی .

سرمعلم : تشکرمعلم صاحب دواړه لارې ئې معقولې دی ، سباته به که خیروی پـه دې بـاره کښې لـه خلکوسره سلاوکـړو .

راغـلو یوې بلې مـوضوع تـه .

مـلـګـرو !

ستاسې به په یا دوی چه ز مونږ یو ډیر ښه شاګرد ؤ چه په خپل وخت کښې د صنف اول لمبر ؤ .

معلم : ښه‌صاحب هغه رحیم‌خان ښیې .

سرمعلم : هو ! هغه رحیم‌خان په یاد دې دی کنه .

معلم :هو صاحب‌چه په هغه عاجز څـه چل‌وشو ،هغه خوبیا ماهیـڅ ونـه‌لیـده

سرمعلم : هغه خو ډیر ښه شاګردؤ له درس او تعلیم سره‌ئې ډیره علاقه درلوده

مګر موراوپلارته دې خدای انصاف ورکړی بې‌وخته ئې ورته واده وکړدهلك زړه‌ئې له مکتب نه تورکړ ، پرو سږ کال هم ناکام شو اوسږ کال بیخی مکتب ته رانغی دغیر حاضری په سبب ناکام شو اوس نومونږ مجبور یو چه دمعارف دقانون سره‌ئی سم خارج کړو.

(په دې کښې ټك ، ټك کیږی بازګل وځې اوبیا راځی سر معلم ته وائې چه)

بازګل : صاحب دحکومت کوټوالی راغلی دی .

سر معلم : رائې وله .

«کوټوالی راننوځی اواطلاع سرمعلم ته‌ورکوی،سرمعلم‌ئې اول دځانه سره لولی اوبیا وائی چه : »

ملګرو !

غوږ کیدی ء دهغه هلك په باره کښې چه اوس مونږاوتاسی غږیدو داسې اطلاع را رسیدلی ده .

« **محترم سر معلم صاحب !**

محمد رحیم نامی دځوندی خان زوی داو بولګولو په وخت کښې په اوبو باندې له‌یوه سړی سره لاس‌لګولی دی‌او هغه‌ئې په یامه باندی ډیر سخت ژوبل کړی دی .

بازګل: سبحان‌الله.

سر معلم : ډیرسخت ژوبل کړی دی چه دجوړیدو امیدترې نه کیږی .

څنګه چه رحیم نامی ستاسې شاګرددی نو په‌تحقیقاتو کښې‌ئې ستاسی‌موجودیت

دمعارف دیوه نماینده په‌حیث ضرور دی».

ښه ده ملګرو ! ستاسې په اجازه به زه ورشم وګورم چه د دې غریب انجام به څه کیږی.

« داوائی له‌ځایه پورته کیږی او دوتلو سره سم‌ئې پرده کش کیږی . »

ځلورمه پرده

ځای

زنـدان

خلـك

رحیم خان : بندی .

دری تنه‌نور بندیان .

یـو عسکر : اویو نفرساتنوال .

دیکور: «زندان ،زولنې او ولچك»

خـبرې

«دپردې دپورته کیـدلو سره زندان لیدل‌کیږی چه بندیان په‌کښـی څوك ناست او څوك پراته دی په‌دې کښې عسکررحیم خان هم‌چه زولنې ئې په‌پښو او ولچك‌ئې په لاسو کې پراته دی راننباسی یو نفر بندی له‌رحیم نه پوښتنه کوی چه: »

بندی: وروره‌ته په‌څه‌شی کښې بندی‌ئې.

رحیم : وروره څه به‌درته دخپلې بدبختی کیسه راسپړم . . . .زه یوبدبخت موجودیم خوزه بیاهم زړه ته په‌دې ډاډ ورکوم چـه زه ملامت نه‌یم... هو مـاملامـت مه بولئ... زه ملامت نه‌یم زما مور اوپلار ملامت‌دی.

بندی : مور اوپلار دې‌څنګه ملامت‌دی !

رحیم : تـه غوږ کیده زه به در ته دخپلې بد بختی قصه تیره کـړم انـصاف ستـا پـه لاس چـه هر څـه فیصله کـوې .

ور وره !

زه دمکتب متعلم وم په مکتب کښې مې ترنهم جماعته پورې په ډیره مینه درس لوسته په‌ټول کال‌کښې مې یوه ورځ غیر حاضری نه‌لرله، په‌صنف‌کښې قابل متعلم همدا زه وم او اول لمبر وم .

مور اوپلارمې راپاڅیدل ښځه‌ئې راته وکړه زه هم ځلمی وم درس اوتعلیم رانه پاتې شو ټوله ورځ به مې په کور کښې تیروله هما غه‌ؤچه دمکتب له درس اوتعلیم نه مې زړه تورشو دادویم کال دی چه بیامې دمکتب پلو، نه‌دی کتلی، اوس ډیر پښیمانه یم مگر څه فایده‌اوس زه له‌قانون نه ځان نه شم خلاسولی ، زه خونی یم ،جنایت‌کاریم قاتل یم ماتش داوبو په‌وار مرگ وکړ اونفرمې وواژه اولس‌کاله قید شوم ،زما سره دا زندان ډیر ښه جوړیږی .

په‌مکتب‌کښې خو پلار پرې نښودم چه سړی‌شوی وای. پریږده چه قانون مې په زندان کښې سړی کړی .

غندل : وروره ستانوم څه دی ؟

رحیم : زما نوم رحیم خو اوس‌رحیمی یم.

غندل : ته‌رحیم‌خان ئې افسوس ستاپه حال ته‌خوډیرلایق هلك وې رحیم‌خانه ښه شوچه‌روغ‌اوجوړمې دلته ولیدې ، رحیم‌خانه زه‌دې وپیژندم زه‌غندلی‌یم‌غندلی .

رحیم : ښه ته‌غندل‌ئې ،ته دلته څنگه‌راغلی ئې ؟

غندل : وروره ماخوهم مکتب پریښوده‌او وتښتیدم ، غټ قماربازرانه جوړشو، بله ورځ په‌جواری‌ناست وم چه گیرشوم اوس دغه دی په زندان کښې پروت یم .

«په دې کښې ضابط راننوځي اووائي »

ساتنوال : هلکه ماخوستاسې خبرې ټولې واوریدې تاسی څه وې ؟

رحیم : هیڅ . . . .مونږ صاحب هیڅ نه وې .

ضابط : ویریږی،مه ، رحیم‌خان څوك دی ؟

رحیم : صاحب زه یم .

ضابط : غندل کوم یو دی .

غندل : زه یم .

ضابط : تاسی زه وپیژندم .

غندل :هو صاحب ومې پېژندې .

ضابط: زه څوك یم .

غندل : ته هغه سړی ئې چه زه دې په جواری ونیولم او دلته دې راوستم

رحیم : نه صاحب ماونه پیژندې ته څوك ئې .

ضابط : بس زه ستاسې یو همصنفی وم ما زحمت وویسته ، په ځان مې شپه اوورځ یوه کړه ، دخدای په فضل اوپه کوشش دې وظیفې ته ورسیدم اوتاسې چه مکتب پرېښوده او غیرحاضران شوئ په دې ورځ واوښتئ زه اوس ستاسې سره

هیچ کومك نه شم کولای ځکه چه ماته له هرشی نه قانون محترم دی او دقانـون سره مقابله زماله واکه نه ده پوره .

رحیم : نه صاحب مونږ درحمورنه یو زمونږ سره مرسته لویه ګناه ده ، مونږ دجامعی چینجی یو پریده چه‌په همدې زندان کښې مړه شو .

ضابط : ښه زه درنه لاړم خدای دې په تاسې باندې ورحمیږی چـه لـه دې بـدې ورځې نه خلاص شئ ، دخدای په‌امان

غوث خیبری

جان ماسترز په خیبر کښې

د زړې افسانې نوی فصل

څه موده مخکښې مې دورځپاڼو مجلو د مطالعې په وخت کښې سترګې د (جان ماسترز) په یاد دانښتونو ولګیدی او چه څنګه مې د خیبر نوم د انګریزی افسر په څنګ کښې وکوت نو دغه وخت کښې راته یو عجیب احساس پیدا شو د پښتنو او انګریزانو زړې خاطرې را په یاد شوې .

هغه خاطرې سره له دې چه ډیرې ترخې دی خو بیا هم د افغان د نوې نسل د پاره دهغو ساتل او خوندی کول ضروری ګڼل کیږی هغه خاطرې باید تل ژوندی وساتل شی او د دې خاورې د هر اوسیدونکی د ملی غرور د بیدارولو په لار کښې ترې کار واخیستل شی. د پښتنو د هغه غرور له مخې چه (جان ماسترز) ورڅخه یادونه کوی هغه ته د اعقیده پیدا کیږی چه د اکام د دنیا یو نه فنا کیدونکی کام دی .

(جان ماسترز) په خپلو یاد دانښتونو کښې ډیر څه لیکلی دی چه په هغه کښې یې د خپلو دیارلسو کلود خدمت شرح او نتیجه کښلی ده هغه دیارلس کاله چه ده په پخوانی هندوستان او خیبر کښې تیر کړې دی ترهغې وروسته یې د خپل تازه او وروستی سفر په باره کښې چه خیبر ته یې کړی څه لیکلی دی .

د (جان ماسترز) دکتاب زیاته برخه دانګلستان مشهور اخبار (سنډې تایمز) خپره کړې اوله هغه څخه بیانورومطبوعاتو دسنډې تایمزدمجلې په حواله اخیستی ده .

(جان ماسترز) په خپلو یاد دانبتونو کښې ډیر څه لیکلی دي چه که هغه ټول دلته راوړل شی نو دهر حساس لوستونکی په سترګو به دغضب تیاره راشی .

زه خپله دجان ماسترز دټولو یاد دانبتونو دخپرولو طرفداریم څو دپښتون کام بچی بچی تـه دامعلومه شی چـه دهغوی سره د (جان مـاسترزیانو) دښمنی بس کیدونکی نه ده خوبیا هم دځینو عواملو اووارېکوله کبله راته دغه ښه ښکاری چه د دغویاد دانبتونو هغه برخې او کرښې خپرې شی چه لیکونکی دهغو په لیکلو کښې دخپل شعور ضمیراو عقیـدې برخلاف دحقیقت اوواقع بینی نه استفاده کړې ده .

سره له دې چه د(جان ماسترز) دغه لیکې به کوم نوی شی نه وی اودخپلو تربرونو (سر اولاف کیرویانو اونورو. .....) په شان به یې دیوه خاص منظور دپاره دکاغذ مخونه تور کړی وی خوبیا هم داسې څه به پکښې وموندل شی چه هغه به دپښتنو دپاره لږ تازه ګی ولری نو ځکه ماهغه دزړې افسانې یونوی فصل وګڼلو.

(جان ماسترز) هغه سړی دی چه تقریباً یوه پیړۍ یې کورنی دسروزرو دمرغۍ یعنی پخوانی هندوستان محافظین اوساتونکی وو په خپله دی څه موده په خیبر کښې د (ګورکه) غونډ افسرو اولکه څنګه چه په خپله لیکی دلومړی ځل دپاره یې په خیبر کښې په (وژلو) شروع وکړه .

(جان‌ماسترز) هغه افسردی چه په ۱۹۲۰ ع کښې د(عجب‌خان غازی) دقهرمانۍ اوجانبازۍ نندارچی واود (جګړن الین) دلور دورکیدو اوتښتولو ډرامه یې لیدله .

(جان‌ماسترز) د(عجب‌خان غازی) مشهوره پیښه په خپل کتاب کښې راوړې دهدغه حقیقی واقعه چه زیاته یوې فانتیزی اوخیالی افسانې ته ورته ده سره ددې چه‌یو ښکاره حقیقت دی بیاهم د(جان‌ماسترز) دقلم لاندې یوې غلطې اومنفی لارې ته ورګرځول شوې ده اوکه چیری دواقعې شهرت قوت نه درلودای اودنورو خارجی اوداخلی لیکوالو په لیکنو کښې نه‌وای راغلې نو یقیناً به دهغی رنګ اوبڼه په قطعی ډول اوښتی وه .

دلته زه د جان ماسترز دیاد دانښتونو رانقلول شروع کوم خوالبته هغه برخه ترې رااخلم چه دحقیقت اوراستی رڼا په کښې وی اوچه دلیکونکی پکښې پروپاګنډی جنبه او دافغان ولس سپکاوی مطلب وی هغه برخه یې نه را اخلم .

(جان ماسترز) دخپلې لیکنې سرخط داسې ټاکلی دی :

خیبر ، دپښتنو خاوره ، دنړۍ یو عجیب ځای !

ورپسې بیالیکی :

خیبر، هغه ځای چه دوه زره اوپنځه سوه کاله په کښې ډیر پادشاهان ، امپراتوران حاکمان او هغه غاوره حکمرانان چه دزور اوقوت له لارې یې په هغه ځای غلبه غوښتله دسختو بیشمارواولویومشکلاتو سره مخامخ وو .

خیبر چه په اوړی کښې یې ګرمی سړی سوزی او دژمی په کښې دواورو او یخنیو توفان جوړوی دمځکې پیژندنې له مخې داځای دنړی دعجیبو اوحیرانوونکو ځایو څخه دی سراسریې لو ړولو ړوغرونو سرونه اسمان ته جګ کړی او دیولړ غاښونو شکل یې ځانته غوره کړی او شمال شرق اوغرب ته یې مخه ده .

معلومه ده چه‌داسې ځای دداسې شرایطو سره‌نشی‌کولی دخپلو زیاتو اوسیدونکو د پاره دژوند ضروری شیان پوره کړی او دوی له‌احتیاج نه خلاص کاندی .

ددغه ځای اوسیدونکی خاص پښتانه دی چه ریښه‌یې له سامی نژاده څخه ده خوخپله دوی وایې چه‌دمقدونی اسکندر دهغو سپاهیانو له‌اخلافوڅخه دی‌چه‌هندوستان باندی دیرغل اوحملې په‌وخت کښې له‌هغه بیل شوی اویا تښتیدلی دی (۱)

له دغه کرښو څخه وروسته استعمارچی جان‌ماسترز په پښتنو پورې ځینی تورونه تړلی دی خوزه هغه دیودرانده سړی دشان سره وړنه بولم‌اودلته‌یې نه‌راوړم زه نه غواړم چه د ده دعقیدې اومفکورې په تردید کښې څه ولیکم ځکه په خپله د تاریخ پاڼی او دنورو زیاتو مشهورولیکوالو ، عالمانو اوپوهانو په آثارو کښې ددغې مفکورې اوغلط تصوررد په ښه شان موجود دی .

ښاغلې جان ماسترز دخیبر داوسیدونکو په باب وړاندې لیکی :

---

(۱) دانظریه کوم تاریخی ارزښت نه‌لری پښتانه نه‌سامیان دی اونه دسکندر پاتې شونی بلکه یوزوړ آریایې توکم دی .

دی کام یوازې اسلام قبول کړی اوپه دین ډیر کلك ولاړ دی تر اوسه پوری هیڅ یوه خارجی نفوذ په هیڅ ډول په دوی کښې لارنه ده موندلی اونه پهدې قادر شوی دی چه دیوې زیاتې مودې دپاره هلته پښه ټینګه کړی .

نوموړی وړاندې لیکی :

کله چه انګریزانو په (۱۸۰۰) کښې په خیبر سختې حملې شروع کړې اوغوښتل یې چه دپښتنو پهدې خطرناکه مځکه قبضه وکړی نو دلته دنور وفاتحانو اویرغلګرو په شان دزیاتومشکلاتوسره مخامخ شول اونه پوهیدل چه د دې سیمی له اوسیدونکو سره څنګه چال چلند وکړی بلکه پهدې برخه کښې بیخی ناتوانه اوعاجز پاتې وو سره د دې چه انګریزانو دخیبر په لوړ غرونو کښې ځینې چونې اوعسکری ځایونه جوړ کړی ووخو بیاهم پښتنو دحملو او چپاول نه لاس نه اخیست او دیو خونړی سیلاب په شان بهله غرونو راښکته کیدل اوسخت تاوانونه بهیې رسول .

جان ماسترز ورپسی دځان درنه او دپښتنو سپکه وایی او خپله عقیده داسې ښکاره کوی : پښتانه له دې کبله چه په خپل کور کلی کښې یې اقتصادی حالت خراب و اووږی وواوهم یې مځکې حاصل نه ورکاوه نو ځکه دوی چور او چپاول ته مجبور کیدل خوسره له دې دانګریزانو په نظر یې دهغوی

دغه کارهم دتحمل وړ نه وله دې کبله یې زیار ویست چه په هر ډول چه کیږی دغه خلك د خپلې پنجې لاندې راولی .

دلته بیا جان ماسترز دانګریزی سیاست له مخه پرده لیرې کوی او وایی :

ډیر جنګونه اوخونړی جګړې وشوې خو بیا هم دغه کام تسلیم نه شو .

انګریزانو بیا بیا کوښښونه وکړل خو هیڅ ګټه یې و نه کړه څو په آخر کښې دځان د خلاصون او کرار کښیناستلو دپاره یې زیاتې پیسې ولګولې او په دایمی توګه یې هغوې ته دنغدو پیسو مرسته اوکومك جاری وساته او دا دویرې له لاسه یو قسم بډې شمیرل کیدلې .

دې یوبل ځای لیکی .

انګریزانو دپښتنو داقتصادی حالت دښه کیدو دپاره زیات فکرونه در لودل او حتی په ځینو برخو کښې یې اقدام وکړو خو . . . . .

اوس وګورئ چه حقایق څنګه د جان ماسترز د دماغ په تیارو او ورستو پردو کښې ځان ښکاره کوی او هغه څه چه ویل یې نه غواړی بی اختیاره یې دقلم له خولی راوځی .

جان ماسترز انګریزی افسر وایی :

هو انګریزانو خو دپښتنو دژوند دښیګڼې دپاره ډیر څه په زړه کښې درلودل خوپښتنو په هغوی اعتماد نه کاوه پښتانه ویریدل چه انګریزان به ددوی کلتور ،

ثقافت اوملیت ته‌صدمه ورسوی او خراب به‌یې کړی هغوی دهریو حکومت څخه چه‌دانګریزانو په واسطه منځ ته راتللو کرکه کوله او په هیڅ ډول یې په‌هغه اعتماد او اعتقاد نشو پیدا کولی پښتنو دانګریزانو په لاس دهر مدنی حرکت لکه دمدرسې جوړول ، سړك ایستل ، سوداګری ، دکارخانو تأسیس کول او داسې نورو سخت مخالفت کاوه او دوې ته یې د هیڅ قسم فعالیت لارنه خلاسوله .

جان ماسترز په دې سلسله کښې وړاندې لیکی :

آخر په دې منطقه (خیبر) کښې هیڅ ونشو آرزوګانې نیمګړې پاتې شوې یوه ورځ (اپریدو) چه نور بیخی بې حوصلی شوې وو ، په پیښور حمله وکړه بله‌ورځ (مسیدو) د انګریزانو یوه عسکرې تاپه ونیوه او د ساتونکو څخه یې وسله ټوله کړه بله ورځ (وزیرو) یوه هندوه پیغله له ځانه سره بوتله او په دې وسیله یې دوه کاله په نارامی کښې واچولو چه زه خپله هم په کښې وم .

جان ماسترز وړاندې زیاتوی :

زما او زما د نورو ملګرو دپاره خود تعجب خبره داوه چه دې قبایلو د یو بل سره مستقیم مناسبت در لود د مچیو په شان به په یوه لوټه یو وار را پاریدل او چیچل به‌یې کول زموږ زیات وخت خو ددوی په منځ کښې دتفرقې دپیداکولو دپاره تیریده خولې وروسته به بیا دا را معلومه شوه چه هرڅه چه به موریشلی‌وو هغه ټول به وشلیدل او برباد به شول .

په دی ځاې کښې انګریزی افسر ځو کرښې د پښتنو دبیلو بیلو قبیلو په شرح کښې لیکی او د هرې قبیلې بیل خصوصیات بیانوی، یوه قبیله زیاته خطرناکه بولی او دبلې د شجاعت او فداکاری یادونه کوې په دغو کرښو پسې (جان ماسترز) د یوې عجیبی او حیرانوونکی واقعې تفصیل لیکی چه دې خپله د هغی شاهدو . دغه واقعه هماغه د عجب خان غازی کار نامه ده چه زیاته افسانې ته ورته ده او مایې په لومړ نیوکرښو کښې هم یادونه وکړه .

جان ماسترز لیکی :

په ۱۹۲۰ کال کښې یو پښتون چه عجب خان نومیده د سارا څخه کورته راغی په کور کښې یې د خپلې مور حالت بدل ولید . هغه کله خپله مور دغه شان نه وه لیدلی په زړه کښې یې یو مبهم او نا معلوم احساس را پیدا شو په کرار خپلې‌مورته ور نږدې شو اوله هغې څخه یې پوښتنه وکړه :

آبی ! خیرت خودی ، ناروغه خونه‌یې ، بنه دې . . . .

د عجب‌خان خبره په خوله کښې نیمه پاتې شوه د ګرانې پښتنی مور په سترګو کښې یې داوښکو ډنډونه ولیدل هغه وکتل چه څنګه یې مور زیار وباسی چه دزوی په مخکښې یې د سترګونه اوښکی تویې نه شی . . . .

د عجب‌خان رنګ تغییر وکړ زړه یې په ټوپونو شو او یو عجیب انقلاب یې په

روح کښې پیداشو دغه انقلاب د پښتنې میرمنې له نظره پټ پاتې نشو په کراریې خپلې اوښکې پاکې کړې او په درنه لهجه یې هغه ته ځواب ورکړ :

ستاپه غیاب کښې انګریزی سپاهیان کلی ته راغلیوو او دکوم مجاهد په لټه کښې چه هغوی قاتل ګاڼه دلته ګرزیدل دلټې په وخت کښې یې ما او ځو نـورو ښځوته زیات تکلیف راکړ او په سپك نظریې مونږ ته وکتل . . . . .

عجب‌خان یو پښتون‌و او د یو پښتون دپاره دا لویه بی‌غیرتی وه چه دا ګناه په نظر کښې و نه نیسی او دانتقام ځخه یې سترګې پټې کړی ، بی درنګه یې په ورور غږ وکړاو دواړه ټوپك په غاړه له کوره ووتل .

دشپې سخته تیاره وه په هغه تیاره کښې عجب خان ځان دانګر یزی افسرانو ځای ته ور ور ساوه اوهلته یې‌ځان ته روګودر برابر کړ اوپه پوره زړورتیاله خطر ناکو اغزنو مزو ځخه چه شاته‌یې پیره داران ولاړو و دسینې په‌کشولو هغې خواته تیرشو لومړنی کوټه چه مخې ته ورغله هغې ته په بی پر وایی ورننو وت . . . . .

عجب‌خان او ورورته‌یې داپته نه وه چه دغه‌کوټه دچاده اوځوك پکښې او سیږی دغه کوټه کښې زموږ مشهور عسکری منصبدار (الین) دخپلې ښځې اوپیغلې لور سره ژوندکاوه . . . . .

عجب خان او ورورپې دواړه کوټې ته ورننوتل په دغه وخت‌کښې خپله (الین) نـه وخـو (۱۹) کلنه لوریې دخپلې مور سره ناسته وه چه عجب خان دغه حـال

ولید نو ورویې دالین لور لهلا سه ونیوه اومخ په دروازه راروان شو دالین ښځې چه دغه صحنه ولیده نوبې اختیارهیې چیغه کړه .

د دې نه وروسته جان ماسترزدې حقیقی پیښې ته جعلی اومصنوعی رنګ ورکړی اوله حقیقت څخه بهر وتلی دی . . . مثلا وایی چه :

څنګه چه دالین ښځې کړیکه کړه نوعجب خان غازی خپل ورورته و ویل چهفریاد تهیې مه پریږده اوسریې غو څوه اوهمداسې یې هم وکړل . . . . . .

دا واقعه خوپه اصل کښې داسې نه دهمګرجان ماسترز پکښې دغرض ټکی ور داخل کړی دی دښځو احترام اونمانځنه دپښتون کام یوه غوره صفت اوخاصه ممیزه ده د دنیا په هیڅ یو کام کښې به ښځی ته په دې نظرونه کتل شی په کوم نظر چه پښتانه میر منوته ګوری .

پښتانه دښځې پړونی ته په درانه نظر ګوری او په هیڅ ډول دهغې بې احترامی نه کوی . . . .

(لیډی سیل) په خپل کتاب کښې لیکی چه زه په خپله دبیشمارونو روښځو سره یوځای دلوی مجاهد غازی وزیر محمد اکبرخان په لاس کښې ډیره موده بندی وم زیاتې ورځې شپې له یوځای څخه بل ځای ته په سفر کښې و وډیرې سختې لنډې را باندې راغلې په خپله وزیر اکبر اونورو پښتنو زمونږ زیات احترام اوله مونږ سرهیې ښه چلندکاوه او داموهیڅکله په زړه کښې نه ګرځید له چهګوندی مونږ

دخپلو دښمنانو په‌لاس کښې بندیانی یو . . . . .

دجنرال سیل ښځه په دې سلسله کښې وړاندې لیکی :

پښتانــه ښځه یومقد س وجودګنې ښځه هم دزیات احترام له کبله خپل مــیړه

(ځښتن) بولی اودانوم خوپه حقیقت کښې دخدای پاك نوم دی . . . . .

ډیــرې شخړې اوجګړې دښځو په پړ ونوپای ته‌رسیږی قاتلان دښځو په پــلو

معاف کیدی شی او . . . . . .

زه نــه پوهیږم چه ښاغلی جان ماسترز دخپل لوی جنرال دمیرمنې اثرلــوستی

دی او که نه ، لوستی خوبه‌یې ضرورروی .

لیکن تعجب دادی چه دی سره د دې هم دبی ځایه تهمتونو کوښښ کوی .

جــان ماسترز دعجب خان دحقیقی پیښې په بیان کښې ډیر تومتونه او دروغ

له ځانه ساز کړی دی .

عجب‌خان دجګړن الین دنولس کلنې لور په بیولو کښې له‌خپل پښتنی احساساتو

اوقومی قوانینو څخه نه‌دی اوښتی او ددغی پیغلې پوره احترام یې په ځای کړی‌دی .

عجب‌خان دیو اصیل پښتون په‌ځیر دانګریزی پیغلې له بیولو څخه (جګړن‌الین)او

نوروافسرانوته‌دهغې سلامتی خبر څوڅوواري ورکړی حتی دغه‌یې هم ورته ښکاره

کړه چه ستاسې پیغله لور به په دغه ځای کښې دنورو پښتنو میرمنو سره پوځای

دیوې درنې‌اوګرانی میلمنې په توګه وساتله شی‌اوبیابه یې‌دځینوشرایطوله منلوسره که موارزود رلوده تاسې ته بیرته درو سپارو . . . . . .

جان ماسترزله اغزنو مزو څخه چه پیره داران یې هم‌شاته ولاړ دی دعجب خان اودهغه ورور تیریدل یوعجیب کارګڼی اود پښتنو شجاعت ته هك پك پاتې کیږی .

جان ماسترز چه په خپل کتاب‌کښې دپښتنو په برخه کښې‌هر څه لیکلی ، لیکلی به‌یې‌وی خومونږ دپښتنی موجوده نسل له پاره هغه یوه دعبرت‌اوپند متروکه بولودا متروکه ښایی تریوې اندازې پورې دهغو دویښولود پاره مؤثره ثابته‌شی اوسترګې پرانیزی چه خلك څنګه د دوی دسرنوشت سره لوبې کول غواړی .

ماته که فرصت په لاس راغی نودعجب خان غازی حقیقی پیښه به په نوی بڼه دیوې افسانې په قالب کښې واچوم او خپلوګرانو لوستونکو ته به‌یې وړاندې کړم.

پټه

غازی واټ ، شمالی برخه ، نوی ښار
کابل- افغانستان
دپښتو ټولنې درئیس
تېلفون لمبر ۲۰۳۵۰
کابل مجلې دتېلفون لمبر ۲۱۷۱۶

داشتراك بیه

«په افغانۍ»

په کابل کښې	۴۰
د هېواد په نورو برخو کښې	۴۶
زده کوونکو ته نیمه بیه :	
۱- کابل	۲۰
۲- اطراف	۲۳
د باندې ملکو کښې :	۵ امریکایی ډالره
دیوی ګڼې بیه :	۴

د شپږو میاشتو اشتراك هم منل کېږي

د پښتو ټولنې د جاری حساب لمبر په افغانستان بانك او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۷۱۸۷

داشتراك بیه په اداره کښې هم اخیستل کېږي

2 - JUL 30
Copy 1964

KABUL

Monthly Journal Of The

Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature. Philosophy

Philology, Sociology, Art and related fields

President of the Academy: POHAND RESHTEEN

Editor: M. Sidiq Rohi

Co-editor M. Moman Patwal

Address Pashto Academy

Kabul. Afghanistan